بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** پولي سیاست

**څانګه:** بانکداري

**تدوین کوونکی:** خدیجه سادات

**ژباړونکی:** مجیب الرحمن امیري

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزايي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- شیرآقا صنعت یار

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.d[illegible]tvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@d[illegible]tvet.gov.af

**د ISBN:** ISBN 97899[illegible]300[illegible]61

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همدااراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند ټګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســمونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | پولي سیاست | ۱ |
| دویم | د پولي سیاست وسایل او ډولونه | ۱۳ |
| درېیم | د بودیجې د کسر او اضافي نوټونو د نشر سیاست | ۲۵ |
| څلورم | د پیسو د ارزښت ساتل او استقرار | ۴۳ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه:**

هر هېواد او اقتصادي نظامونه ځانګړې اقتصادي موخې لري، چې هغو ته د رسېدو لپاره هڅې کوي. د بېلګې په توګه د پرمختيا په حال کې هېوادونه لکه د افغانستان اقتصادي نظامونه چې د اقتصادي ودې او پراختيا يې او موخو ته د رسېدو لپاره هلې ځلې کوي. په پرمختللو صنعتي هېوادونو کې هم د دولتونو اغلبه موخه د کامل استخدام تامين او له تورم سره مبارزه ده، ترڅو د بيو ثابت ساتلو سره يو ځای د هېواد ملي پولي اعتبار د بې کارانو او کم عايد لرونکو له اعتراض سره مخ نه شي.  په هره ټولنه کې مرکزي  بانك، چې په اوسمهال کې د مهمو مالي موسسو څخه ګڼل کېږي، د هېواد په دننه او بهر کې د اقتصادي سياست په بشپړتيا او د حجم په کنټرول کې مهم رول او اهميت لري. ياد اهميت په مستقيم ډول د ملي پيسو په رول او له بهرنيو اسعارو سره د هغو په ارزښت او ثبات ساتنې پورې تړلی دی، چې د مرکزي بانکونو د پام وړ بشپړتيا اسباب يې برابر کړي دي. د اقتصادونو په پولي کېدو سره، د پولي سياستونو رول او اهميت په ملي اقتصادي بهير کې د دولت د دخالت له مهمو اشکالو څخه ګڼل کېږي.

د يوه هېواد پولي سياست د پيسو د حجم او مجموعي غوښتنې له مخې ډېر اهميت لري او کله چې دولت د اقتصاد موجود وضعيت مطلوب ونه بولي، مطلوب وضعيت ته د رسېدو لپاره، د موجود وضعيت ښه والی او يا ځانګړې شوې موخه ځانګړې لار ځان ته غوره کوي. د يادې مقولې اهميت ته په پام سره د هېواد په اقتصاد، پيسو او اقتصاد د پوهې ترلاسه کول نه يوازې د ټولو پوهنتونونو له درسي توکو څخه ګڼل کېږي، بلکې اقتصادي فعالان هم د هغو اغېزو له امله چې د پولي سياست له اړخه يې منل، د دې ډول پوهې د ترلاسه کولو هيله من دي.

خديجه سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ټولیزه موخه:**

له پولي سیاستونو سره بلدتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## پولي سیاست
**Monetary Policy**

**ټولیزه موخه:**
د پولي سیاست عمومي موضوعګانې، مرکزي بانك او دندې یې، د مرکزي بانك اصلي او فرعي دندې

**د زده کړې موخې:**
د دې څپرکي په پای کې به محصلان پر لاندې توکو برلاسي شي:
- له پولي سیاست سره بلدتیا، لاملونه او د هغوی پېژندنه.
- د مرکزي بانك په اړه معلومات او د اقتصادپوهانو له نظره د هغه تصویب، تعریفونه، سوداګریز او اختصاصي بانکونه او د هغوی دکړنو څرنګوالی.
- د پولي سیاست اصلي او منځنۍ موخې.
- د ټولنې په اقتصادي پرمختګ کې د مرکزي بانك رول.

**د پولي سیاست مفهوم**
پولي سیاست هغه سیاست دی، چې د مرکزي بانك له خوا د پیسو د وړاندې کولو د کنټرول او د اقتصادي عمومي سیاست د اصلي موخو د ترلاسه کولو لپاره کارول کېږي.
**په بله وینا:** پولي سیاست د هغو تدبیرونو او تصمیمونو له ټولګې څخه عبارت دی، چې د ټاکلو اقتصادي موخو، په ځانګړې توګه د ثبات د ټینګښت، استقرار او پولي ارزښت په موخه نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پولي سياست عاملين:**

بانکي سيستم له درې ډوله بانکونو څخه جوړ دی، چې په لاندې ډول دي:

**مرکزي بانك:**

په اوس وخت کې مرکزي بانك د هر خپلواك او مقتدر هيواد لپاره د يوې مهمې مالي موسسې رول لري، ځکه دا موسسه د دولت د اقتصادي سياستونو په بشپړتيا، په ځانګړې توګه د پولي او مالي سياستونو په چوکاټ کې مهم رول لوبوي او کړنې يې د دولت د سمو اقتصادي او مالي فعاليتونو لپاره اړينې دي او د هيواد د پولي چارو مديريت پر غاړه لري. مرکزي بانك د بانکونو د بانك په نامه هم يادېږي. مرکزي بانك په ځينو هېوادونو په ځانګړې توګه مخ پرووده هېوادونو کې د حکومت تر مستقيمې ادارې لاندې خپلې دندې ترسره کوي، خو د هر هېواد مرکزي بانك له نورو هېوادونو سره د دندو په برخه کې توپيرونه لري. پر دې بنسټ د وخت په اوږدو کې د مرکزي بانك د دندو د زياتوالي په پام کې نيولو سره يو لنډ او نه بدلېدونکی تعريف ستونزمن دی. سره له دې مرکزي بانك ښايي د مرکزي پولي موسسې په توګه چې د سوداګريزو بانکونو د دندو ټاکل، د دولت مالي استازيتوب او د هېواد د پولي سيستم رهبري کول پر غاړه لري، هم ياد شي.

اقتصاد پوهانو هم مرکزي بانك په بېلابېلو ډولونو تعريف کړی، د بېلګې په توګه، شو ( Shw) مرکزي بانك د اعتبارونو د کنټرولوونکي په توګه تعريف کړی دی. همداشان (How Trey) مرکزي بانك د پور لپاره د وروستنۍ سرچينې په توګه تعريف کړی. يو شمېر پوهان د مرکزي بانك عمده دندې د پولي بنسټ ساتنه او ثبات بولي او يو شمېر بيا د مرکزي بانك له خوا د پيسو د نشريدو پر دنده ټينګار کوي. په هر حال کې سوداګريز بانکونه له خلکو څخه امانتونه نه قبلوي، ډېرى کارونه چې سوداګريز بانکونه يې د خلکو پر وړاندې  بايد ترسره کړي، نه يې ترسره کوي.

مرکزي بانك په مخ پر وده هېوادونو کې مستقل طبيعت نه لري، په ځينو هېوادونو کې نيمه مستقل طبيعت لري، لکه په کاناډا او انګليستان کې.

په يو شمېر هېوادونو کې مرکزي بانك بشپړ واك لري، لکه د امريکا په متحدو ايالتونو کې، چې رئيس يې د ولسمشر او مشرانو جرګې په وړانديز ټاکل کيږي او د بانك رئيس يوازې د مشرانو جرګې ( سنا ) پر وړاندې مسووليت لري.

د مرکزي بانك موخه د نورو مالي موسسو په څېر دګټې ترلاسه کول نه دي، بلکې موخه يې د کنټرول له لارې د پيسو د ثبات او ارزښت ساتل او د حجم مراقبت او همداشان د نورو بانکونو او مالي موسسو د ناکامۍ مخنيوی دی او په ځينو هېوادونو کې د مرکزي بانك پانګه په خصوصي ملکيت پورې تړلې، خو د عامه موسسو په رديف کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په نړۍ کې مرکزي بانك په دوه ډوله منځ ته راځي:**

۱ – د سوداګريزو بانکونو د بشپړتيا او ودې له لارې، لکه د انګليستان مرکزي بانك.

۲ – په ځينو هېوادونو کې مرکزي بانك لومړی د حکومت له خوا تاسيس او پانګه يې هم د حکومت له خوا برابرېږي.

۳ – مرکزي بانکونه دوې مهمې دندې ترسره کوي، چې يوه يې د پيسو د عرضې کنټرول او بله يې د نورو بانکونو د ماتې مخنيوی دی. همداشان ځينې نورې دندې، لکه د ميعادي امانتونو او سم لاسي امانتونو او ځينو نورو بانکي معاملو ترسره کول.

په ټوليزه توګه مرکزي بانك لاندې دندې لري:

۱ – د بانك نوټونو خپرول.

۲ – د دولت استازی، بانك لرونکی، سلاکار او مالي لارښود.

۳ – د سوداګريزو او خصوصي بانکونو د نغدو او موجودو زېرمو ساتنه.

۴ – د سوداګريزو بانکونو لپاره د پور چمتو کول.

۵ – د هېواد د فلزي زېرمو او اسعارو اداره او ساتنه.

۶ – د اعتبارونو کنټرول او د پولي سياست ترسره کول.

۷ – د بانکونو ترمنځ د محاسباتو تصفيه کول.

**د اقتصاد په پرمختګ کې د مرکزي بانك رول**

د سوداګريزو بانکونو او مرکزي بانك موخې سره توپير لري او سوداګريز بانکونه يوازې درې موخې لټوي:

۱ – سيالي(رقابت).

۲ – ساتنه يا محافظت.

۳ – د عايد لاسته راوړل.

خو د هر مرکزي بانك موخې، د بيو ثبات او اقتصادي وده، د بې کارۍ له منځه وړل او د تادياتو د بيلانس د تعادل منځ ته راوړل دي.

تر ټولو مهم رول چې مرکزي بانك يې په اقتصاد کې لوبوي، د بيو ثبات او اقتصادي وده ده، ځکه د بيو دثبات نشتوالی، د اقتصاد د بې ثباتۍ او د عايد د وېش د بې عدالتۍ لامل کېږي. يادې موخې ته د رسېدو لپاره له ځينو وسايلو څخه ګټه اخيستل کېږي، د بېلګې په توګه د بازار د مارکېټ له سياست څخه چې د مرکزي بانك په وسيله د دولتي پور داسنادو پېر او پلور ته رجوع کوي.

کله چې په اقتصاد کې د بيو سطحې د لوړېدو په حال کې وي، د دې وضعې د کنټرول لپاره مرکزي بانك د دولتي پور اسناد خرڅوي، چې له مخې يې پيسې له اقتصاد څخه راټولېږي او خپلې زېرمې لوړوي. کله چې په اقتصاد کې پيسې کمې شي، له يوې خوا د پيسو د ارزښت پر لوړوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې اغېزه کوي او له بلې خوا پر پانګونې هم اغېزې کوي، یانې پانګونه کمېږي، چې دا کار په خپل وار د بیو د لوړېدو مخنیوی کوي.

په سوداګریزو بانکونو کې د زېرمو د بدلون یا په بانکي نرخ کې د بدلون سیاست کولی شي اقتصادي ودې او پرمختګ ته لار هواره کړي.

د بېلګې په توګه، مرکزي بانك موخه لري، چې په مجموع کې اقتصادي ثبات رامنځ ته کړي، د سوداګریزو بانکونو له لارې د سوداګریزو بانکونو زېرمې لوړوي، ترڅو پانګوالو ته د پور ورکولو ځواك پیاوړی شي. په دې توګه د ډېرې پانګونې له لارې د بې کارۍ ځواك کمېږي او دا کار د لاس ته راتلونکو عوایدو پر سطحه مثبتې اغېزې ښیندي او د پانګونې ډېروالی طبعاً د اقتصاد پر ودې باندې مثبته اغېزه لري.

**سوداګریز بانکونه:**

سوداګریز بانکونه د سوداګریزو چارو د آسانتیا، دسوداګریزو فعالیتونو دپراختیا او دلنډمهاله امانتونو د ورکړې دنده لري. دا بانکونه د خلکو دغوښتنو پر بنسټ میعادي امانتونه قبلوي او د دغو بانکونو یو والی د عامه زیان لامل ګرځي، له همدې امله تل د مرکزي بانك تر څارنې او کنټرول لاندې وي.

دغه بانکونه په ځینو هېوادونو کې د بیمې په موسسو کې په ځانګړي ډول بیمه کېږي، ترڅو د غریبو او منځنیو خلکو د امانتونو د زیانمنېدو مخه ونیول شي. د بېلګې په توګه په امریکا کې دا دنده د امانتونو د بیمې فدرال موسسه ( Deposit) پر غاړه لري.

د جاري حساب یا عندالمطالبه امانتونه د دې بانکونو تر ټولو عمده امانتونه دي، چې د دې ډول طلباتو څښتن کولی شي د خپلو امانتونو په مقابل کې چك ولیکي. په ځینو هېوادونو کې د عندالمطالبه او میعادي حسابونو ترمنځ فوق العاده توپیر لیدل کېږي. د بېلګې په توګه په افغانستان کې د سپما امانتونو لپاره له ۵ تر ۶٪ پورې ګټه ورکول کېږي، حال دا چې د عندالمطالبه امانتونو لپاره هېڅ ګټه شتون نه لري، خو په ځینو هېوادونو کې دا توپیر له منځه تللی. د جاري امانتونو لپاره ګټه ورکول کېږي، خو دا فیصدي په مراتبو د سپما امانتونو له ګټې څخه کمه ده.

ټول سوداګریز بانکونه مکلف دي، د قانون مطابق د خپلو امانتونو یوه ټاکلې فیصدي د قانوني زېرمو په توګه په مرکزي بانك کې کېږدي. د امانتونو ( سپارنو ) بله برخه چې اضافي زېرمې بلل کېږي چې د بانکي صندوقونو له موجودۍ سره یو ځای، د دې لپاره له نغدوالي څخه نسبت شتمنۍ ته ډېره برخمنه ده، کولی شي د چکونو د نغدولو په موخه چې په مستقیم یا نامستقیم ډول د بانکي حسابونو د یوه حساب لپاره ایستل کېږي، وساتل شي.

اصولاً بانکونه خپلې مهمې ګټې د اعتبار د ورکړې له لارې ترلاسه کوي، چې دا دولتي او نادولتي برخې ته د پور په ډول د سوداګریزو بانکونو د شتمنیو یوه فیصدي ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ورځ د بانکوالۍ سیستم پرمختللی دی او د بانکونو ترمنځ اړیکې د کمپیوټر او برېښنایي سیستم له لارې ټینګېږي، په ځانګړې توګه زموږ په هېواد افغانستان کې سوداګریز بانکونه په بشپړه توګه پرمختللي او انټرنېټي شبکې په واک کې لري. لکه د Core Banking Sestem سویفټ، د ګرځنده ټېلېفون له لارې بانکوالي او نور پرمختللي وسایل، چې په لنډ وخت کې ډېر خدمتونه ترسره کولی شي.

**خصوصي بانکونه:**

له هغو بانکونو څخه عبارت دي، چې خپلې بانکي کړنې په یوه ټاکلې او مشخصه ساحه پورې تړي. د اصولو له مخې اختصاصي بانك او بانکوالي داسې تعریفېږي:

( اختصاصي بانك له هغې موسسې څخه عبارت دی، چې د یوې ټاکلې او مشخصې ساحې د پولي او کرېډېټي معاملو د ترسره کولو په موخه منځ ته راځي او د هغو اسنادو او مالونو په خرڅلاو او پېرودلو او همداشان هغو خدمتونو او تخنیکي مشورو چې د اړوندې ساحې له پراختیا او ودې سره تړاو لري، سروکار لري.) دا ډول بانکونه د خپلو فعالیتونو په ساحه کې جاري حسابونه او میعادي امانتونه منلی شي او همداشان د قانون له مخې په خپله ټاکلې او مشخصه ساحه کې د منقولو او نامنقولو مالونو د اخیستلو او خرڅولو واك هم لري.

**د پولي سیاست موخې:**

د پولي سیاست اصلي او معمولي موخې په لاندې ډول دي:

١ – بشپړ استخدام.

٢ – د بیو ثبات.

٣ – اقتصادي وده او پرمختګ.

۴ – د تادیاتو بیلانس.

۵ – د پیسو عرضه کول.

۶ – د کرېډېټونو یا اعتبارونو او ټکتانې نرخ برابرول.

**بشپړ استخدام:**

د ټولو ملتونو د پولي سیاست تر ګردو مهمه موخه ده، ځکه:

**الف:** کله چې استخدام بشپړ وي، نه یوازې په اقتصاد کې کاري ځواك بې کاره نه پاتېږي، بلکې له سرچینو څخه یې هم ښه ګټه اخیستل کېږي.

**ب:** د بې کارۍ لوړه کچه انسانانو او انساني ټولنې ته بدبختۍ زېږوي، کورنۍ اړ کېږي، چې مالي ستونزو ته اوړه ورکړي او د بشپړ استخدام نشتوالی ټولنه د باالقوه بهرني لامل د ضایعاتو او کموالي په لور رهبري کوي او په ټولنه کې فقر ریښې غځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بشپړ استخدام څخه موخه دا نه ده، چې د بېکارۍ کچه باید صفر وي، بلکې بشپړ استخدام هغه وضعیت دی، چې په هغه کې د کار عرضه او تقاضا سره برابر وي.

اقتصاد پوهان د بشپړ استخدام په شرایطو کې د استخدام نرخ یا کچه د طبیعي بې کارۍ نرخ یا کچه بولي. د بې کارۍ کچه ثابته نه وي، بلکې له یوې دورې نه بلې هغې ته توپیر کوي.

د بېلګې په توګه، د ۱۹۶۰ لسیزې په اوږدو کې اقتصادپوهانو د بې کارۍ ۴ ٪ نرخ د موخې په توګه په پام کې نیوه، چې په همدې دوره کې د ۴٪ بې کارۍ کچه یا نرخ د طبیعي بې کارۍ نرخ بلل کېده او د استخدام شرطونه بشپړ وو. په هر حال د طبیعي بې کارۍ نرخ او کچه له یوه هېواده بل هېواد ته توپیر لري، د وخت په تېرېدو او د نویو شغلي فُرصتونو په رامنځ ته کېدو سره د هغه کچه یا نرخ پورته کېږي، چې دولتونه یې باید د کموالي او مخنیوي د سیاست په لټه کې شي.

**د بیو ثبات:**

د پولي سیاست بله موخه د بیو ثبات دی، ځکه د بیو نوسانات په اقتصاد کې شك او بې ثباتي منځ ته راوړي. د بیو لوړېدل او ټیټېدل دواړه ځینو خلکو ته بې فایدې او بې مورده یا نامشروع زیان اړوي.

د بېلګې په توګه، کله چې په اقتصاد کې تورم شتون ولري، د مصرفوونکو، تولیدوونکو او دولت له خوا تصمیم نیول له ستونزو سره مخ کېږي. د بیو د سطحې ساتل د پیسو د اخیستلو قدرت په داسې ترتیب سره چې د پانګونې د هڅونې او د استخدام د سطحې مانع نه شي او د بیو د ټیټوالي د اقتصادي نوساناتو او تموجاتو په موخه اغېزمن تدبیرونه د دولتونو یا پالیسي جوړوونکو له خوا طرحه کېږي، ترڅو مولدین او مستهلکین بې موجبه زیانمن نه شي. په ډېرو شدیدو تورمونو کې د بیو ناثابتوالی پر اقتصادي فعالیتونو اغېزه کوي.

مخ پر وده هېوادنو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د بیو د ثبات اصطلاح ډېره مهمه ده. لکه څنګه چې د افغانستان بانك په قانون کې د بیو ثبات د لومړۍ موخې په توګه او مالي ثبات د دویمې موخې په توګه راغلي، ځکه د پولي نظام ثبات او د مالي نظام وده د افغانستان بانك له مسوولیتونو ګڼل کېږي.

(Grose National product) د یوه هېواد په وسیله د تولید شویو خدمتونو او توکو له مجموعي ارزښت څخه عبارت دی. ناخالص ملي تولید یا (Grose National Product) بېږي.

**اقتصادي وده:**

د پولي سیاست بله مهمه موخه د اقتصاد متوازنه وده ده. د اقتصاد وده او بشپړ استخدام له هغو موخو څخه دي، چې یو له بل سره نژدې تړاو لري او په لاندې ډول تعریفېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي وده په عام ډول د توليداتو او د هغو د عواملو ( مولديت ) د پايلو د کمي او کيفي ارزونې او اندازه کولو په مانا ده او په ځانګړي ډول اقتصادي وده د هېواد او سيمې د ملت د قدرت په لوړوالي کې د ظرفيت او ملي حقيقي محصول له زياتوالي څخه عبارت ده. يا په بله وينا:

اقتصادي وده هغه پړاو يا جريان دی، چې د هغې په وسيله د يوه هېواد حقيقي عايد په اوږده وخت کې ډېروالی مومي او اقتصادي وده په يوه هېواد کې د توليد شويو خدمتونو او اجناسو له زياتوالي څخه په ګټه اخستو سره اندازه کېږي. له دې امله په يوه هېواد کې اقتصادي وده هغه مهال واقع کېږي، چې توليدي ظرفيتونه ډېر شي، چې له هغو څخه په ګټې اخيستلو سره توکي او خدمتونه ډېر توليدېږي. او يا مديران او پانګوال اصولاً هغه مهال د اقتصادي ګټې او ودې په موخه په وسايلو او ابزارو کې پانګونه کوي، چې د بې کارۍ کچه يا نرخ ټيټ وي، په بل تعبير که د بې کارۍ کچه لوړه وي او کارخونې بېکاره وي، د صاحبانو لپاره د نوې پانګونې او نويو کارخونو د جوړولو انګېزه به شتون ونه لري. په هر حال که څه هم دا دوې موخې يو له بل سره تړلې دي، خو کېدای شي داسې سياست ګذاري شي، چې موسسې مستقيماً پانګونې ته وهڅول شي او اقتصادي وده لوړه شي، يا دا چې خلك د ډېرو طرفونو د تامين لپاره د موسسو د مالي تامين لپاره سپمونې ته وهڅول شي. د بېلګې په توګه د مالياتو د کموالي او معاملاتي انګېزې له لارې پانګوال په توليدي ابزراو او وسايلو کې پانګونې ته وهڅول شي، او سپموونکي سپما ته وهڅول شي.

**د تادياتو بيلانس:**

د پولي سياست بله موخه د هېواد د تادياتو د بيلانس برابر ساتل دي. د دې موخې ترلاسه کول دا غواړي چې هېواد په نړيواله سوداګرۍ کې وده وکړي. دا څرګنده ده، چې د تادياتو په بيلانس کې کسر نورو موخو ته د رسېدو لاره ستونزمنوي او د تادياتو په بيلانس کې کسر دا مانا ورکوي، چې اسعار يا سره زره بهر ته روان دي. د تادياتو د بيلانس په اړه د هر هېواد موخه د صادراتو او وارداتو مساوي کول دي، پردې بنسټ په عمل کې هغه هېواد چې غير کافي اسعاري زېرمې لري، بايد صادرات د تادياتو په بيلانس کې خپله موخه وګرځوي.

که يو هېواد د ډاډ وړ او مناسبې زېرمې ولري، بايد د هېواد موخه د صادراتو او وارداتو مساوي والی وي. د تادياتو د بيلانس د تعادل ساتل د پولي سياست يو حتمي کار او امر دی، پر دې بنسټ پوښتنه مطرح کېږي، چې د تادياتو په بيلانس کې څرنګه تعادل راوړو؟ د تادياتو په بيلانس کې کسر دا مانا ورکوي، چې په اقتصاد کې د پيسو عرضه زياته ده او د دغو اضافي پيسو لپاره بايد په اقتصاد کې اعتبار رامنځ ته شي او تقاضا اضافه شي، يانې د تادياتو د بيلانس کسر په يوه هېواد کې د پيسو د عرضې له زياتوالي څخه انعکاس کوي او د تعادل لپاره يې بايد خلك خپلې اضافي پيسې د بهرنيو توکو او يا د پور پر اسنادو باندې د يوه ثابت نرخ تر سيستم لاندې ولګوي او بانك هم بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسعاري زېرمې لوړې کړي او کورنۍ پيسې وپېري، ترڅو د اضافه پيسو عرضه له منځه لاړه شي.

له بله پلوه که د پيسو عرضه ټيټه وي او پيسو ته تقاضا زياته وي، دا مانا ورکوي، چې د تادياتو په بيلانس کې زياتوالی راغلی، چې په دې حالت کې خلك بايد کورنۍ پيسې پر بهرنيانو باندې د پور اسنادو او يا مالونو د خرڅولو له لارې ترلاسه کړي او مرکزي بانك هم په خپل وار اضافي بهرني اسعار د اقتصاد له جريان نه کم کړي، يانې پيرودنې وکړي او په بدل کې يې کورنۍ پيسې جريان ته داخلې کړي، چې د همدې پورتنيو لارو په مرسته کېدای شي، د تادياتو د بيلانس تعادل وساتل شي.

**د پولي سياست معمولي موخې:**

که د سياست مقتدرين د پولي سياستونو د وضع کولو له لارې خپلو اصلي موخو ( اقتصادي ودې، بشپړ استخدام، د بيو ثبات او د تادياتو د بيلانس د تعادل ساتلو ) ته په بشپړه توگه ونه رسېږي، يانې پورتنۍ موخې د بدلون وړ وي، په دې حالت کې بايد پولي سياست پر منځنيو يا وسطی او يا معمولي موخو تکيه وکړي، چې له هغو څخه په گټه اخيستلو سره  کولی شي د زغم وړ کنټرول ولرلی شي، چې دا موخې درې ډوله دي:

١ – د پيسو يا پولي عرضه Money Supply.

٢ – د کرېډېټونو يا اعتبارونو برابرول Availability Credits.

٣ – د ټکټانې نرخ Interest Rate.

**١ – د پيسو يا پولي عرضه:** په اقتصاد کې پولي عرضه ټول هغه پولي عناصر په ځان کې رانغاړي چې په بېلابېلو ډولونو د بانکي سيستم له لارې په دوران کې اچول کېږي.

مرکزي بانك پولي عرضه په اقتصاد کې د زېرمو د اندازې د کنټرول له لارې کنټرولوي او په پولي عرضه کې بدلونونه د دولت د پولي سياست د تصميمونو له امله صورت مومي، چې د هغو په تعقيب د ربحې نرخ په ازاد بازار کې بدلون کوي او د ربحې د نرخ بدلون په خپل وار د پانگونې پر حجم او بلاخره د اقتصاد پر مجموعي توليد باندې اغېزې اچوي.

له بل لوري دا چې مرکزي بانك نه شي کولی په مستقيم ډول بيې کنټرول کړي، په دې حالت کې د بيو د ټاکلو لپاره مرکزي بانك د پولي عرضې د رشد نرخ د منځني يا وسطی هدف په توگه ټاکي، چې دا انتخاب له عملياتي موخو څخه يوه موخه ده او مرکزي بانك کولی شي چې د پولي عرضې د کنټرول له لارې انفلاسيوني اغېزې له منځه يوسي.

نوي کلاسيکان او د پولي مکتب پلويان پر دې اند وو، چې له نوساني لکه تورم او کسادي سره د مقابلې تر ټولو غوره لار سياست بولي، چې هغه هم اساساً د پيسو د حجم په بدلون سره د اقتصادي فعاليتونو له سطحې سره متناسب خلاصه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه د پيسو د حجم کمېدل يا د پولي عرضې د ودې کمېدل د ربحې د نرخ د لوړوالي او مجموعي تقاضا د کموالي لامل کېږي او د دوام په صورت کې په تدريج سره تورم مهاروي.

د فريدمن په نامه د يوه اقتصادپوه د وړانديز له مخې پولي عرضه په هر کال کې له ۲ تر ۴ سلنو اجازه ورکوي، چې نرخونه په يوه اقتصاد کې په ثابت ډول وده او رشد وکړي.

**د ټکټانې د نرخ د کرېډېټونو برابرول:**

د پولي سياست دوې وروستۍ موخې د اعتبارونو او ټکټانې د نرخ برابرول دي او اقتصادپوهان ورته د مارکېټ شرطونه هم وايي، چې په بانکي سيستم کې د ټکټانې نرخ ازادو زېرمو ته رجوع کوي او اقتصادي پاليسي جوړوونکي کولی شي د ټکټانې له نرخ څخه په ګټې اخيستلو سره پر اقتصادي فعاليتونو او هم پر کرېډېټونو يا اعتبارونو باندې د پام وړ اغېزې واچوي، يانې د اقتصاد مقتدرين کولی شي دوه ډوله پولي سياست وکاروي، چې يو( اسانه يا پراختيايي ) سياست دی، چې د ټيټې ټکټانې نرخ په کې وضع کېږي، البته په لنډه دوره کې. او بل پولي ( انقباضي ) سياست دی چې په هغه کې په لنډه دوره کې ټکټانه لوړه وضعه کېږي.

**د پولي سياست ستراتېژي:**

ومو ليدل چې د پولي سياست د کاروني موخه د اقتصادي سياست يو لړ وروستيو موخو ته رسېدنه ده، لکه د بيو ثبات، د بشپړ اشتغال سطحه، د تادياتو د بيلانس تعادل او نور.

مرکزي بانک تمايل لري، چې دې ډول موخو ته ورسېږي، اما دغو موخو ته رسېدنه د يو لړ وسايلو او ابزارو په وسيله لکه د ازاد بازار عمليات، دسياست تنزيل او قانوني زېرمو له لارې شونې کېدای شي.

د پام وړ ټکی دادی، چې دې ډول موخو ته رسېدنه په مستقيم ډول امکان نه لري او د دې لپاره مرکزي بانک بېلابېلې ستراتېژۍ پر کار اچوي.

لکه څنګه مو چې وويل مرکزي بانک وروستيو موخو ته درسېدنې لپاره د پولي سياست وسايل، د عملياتو موخې ( د امانتي موسسو زېرمې، د مجدد تنزيل نرخ او پولي پايې ) خپله موخه ټاکي.

د بېلګې په توګه مرکزي بانک ( د پولي سياست له وسايلو څخه د يوې وسيلې په توګه ) د پور د پاڼو د پېرودنې او خرڅلاو له لارې په ازاد بازار کې پولي بنسټ ته بدلون ورکوي. پر دې بنسټ د پولي پايې يا بنسټ بدلون، د پيسو حجم يا د ربحې نرخ ( د منځنيو موخو په توګه ) تر اغېزې لاندې راولي او بلاخره د ربحې د نرخ يا د پولي زېرمو د ودې د نرخ په بدلون سره وروستۍ موخې ترلاسه کېږي.

په هر حال مرکزي بانک وروستيو موخو ته د رسېدنې لپاره کولی شي، له دوو ستراتېژيو کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلي. یو پړاویزه او دوه پړاویزه ستراتېژي. په یو پړاویزه ستراتېژۍ کې مرکزي بانك د هغو بدلونونو له لارې چې په عملیاتي متحولونو کې یې راوړي، د وروستیو موخو لپاره تر ټولو عملي لار برابروي او لیدل کېږي، چې په دې ستراتېژۍ کې مرکزي بانك د عملیاتي موخو له لارې مستقیماً نهایي موخې په پام کې نیسي.

په دوه پړاویزه ستراتېژۍ کې دا مسئله په دوو پړاوونو کې ځانګړې کېږي. په لومړي پړاو کې وروسته له دې چې مرکزي بانك د خپلو موخو یانې استخدام او د بیو د سطحې په اړه تصمیم ونیسي، د هغو متحولونو مجموعه چې وسطي موخې ( د پیسو حجم، لنډمهاله او اوږدمهاله ربحو نرخ ) بېرې او پر بې کارۍ او د بیو پر لوړوالي مستقیم اغېز کوي، انتخابوي.

په دویم پړاو کې نور متحولونه چې عملیاتي موخې بېرې او د پولي سیاست د ابزارو ډېرې اغېزې مني، انتخابوي. د بېلګې په توګه د دې لپاره چې مرکزي بانك وکولی شي د پیسو د حجم ( M ) لپاره د څلور سلنه ودې نرخ لاسته راوړي، باید پولي پایه یا بنسټ په کال کې دوه سلنه لوړ کړي.

په هر حال مرکزي بانك دې ته ترجیح ورکوي، چې پورتنۍ ستراتېژي غوره کړي، ځکه وروستیو موخو ته رسېدنه د یو لړ منځنیو موخو او اسانه لارو له مخې اسانه کار دی. په چټکو منځنیو ( وسطي ) موخو او عملیاتو سره کولی شي د پولي سیاست د بریا په اړه نظر څرګند کړي.

**د لومړي څپرکي د مطلبونو لنډیز:**

په دې څپرکي کې مو د پولي سیاست تعریف وکړ، د عاملینو ونه مو یاد کړل، مرکزي بانك مو تعریف کړ او ولیدل شول، چې د مرکزي بانك هر تعریف په حقیقت کې د مرکزي بانك له دندو د یوې دندې بیانوونکی دی.

همداشان د مرکزي بانك دندې، چې مهمې یې د نوټونو خپرول، د دولت استازیتوب او بانکداري، وروستی پور ورکوونکی او د اعتبارونو او نورو بانکي او پولي چارو کنټرول دي تحلیل او وڅېړلې. همداشان د سوداګریزو او خصوصي بانکونو له تعریف او دندو سره هم بلد شوو. همداشان د پولي سیاست کارول، چې اقتصادي موخو ته رسېدنه ممکنوي او د دې ترڅنګ نهایي موخو ته د رسېدنې څرنګوالی، چې د مرکزي بانك له خوا د بېلابېلو ستراتېژیو له لارې ممکنېږي، وڅېړل شول. په دې برخه کې ولیدل شول چې نهایي یا وروستیو موخو ته رسېدنه په نامستقیم ډول د وسطي یا منځنیو موخو له لارې اسانه او ساده ده، ځکه له دغو موخو څخه په ګټې اخیستنې سره په چټکۍ سره کېدای شي د پولي سیاست د بریا یا نه بریا په اړه نظر څرګند شي او همداشان له لازمو اصلاحاتو سره نهایي موخو ته د رسېدو لپاره لازمې کړنې ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي پوښتنې**

۱ – پولي سیاست تعریف او د عاملینو ونه یې واخلئ؟
۲ – اقتصادپوهان مرکزي بانك څه ډول تعریفوي؟
۳ – د مرکزي بانك او سوداګریزو بانکونو موخې تشریح کړئ؟
۴ – په کلي توګه د مرکزي بانك دندې په ګوته کړئ!
۵ – په سوداګریزو بانکونو کې تر ټولو عمده امانتونه ( سپارنې) ولیکئ؟
۶ – په کلي توګه سوداګریز بانکونه د قانون له مخې کومې دندې ترسره کوي؟
۷ – اختصاصي بانك د پیسو او بانکوالۍ د قانون مطابق تعریف کړئ؟
۸ – د بشپړ استخدام اصطلاح او د بیو ثبات واضیح کړئ؟
۹ – اقتصادي وده څه ده او کله واقع کېږي؟
۱۰ – د پولي سیاست معمولي موخې څو ډوله دي، ونه یې واخلئ او هم د پولي سیاست دوې وروستۍ موخې سره پرتله کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د پولي سیاستونو وسایل او ډولونه

**ټولیزه موخه:**
په یوه هېواد کې د پولي ارزښت او ثبات ساتنې، مساعد اقتصادي حالت او د بانکوالۍ نظام د پیاوړتیا په موخه د پولي سیاست د وسایلو توضیح.

**د زده کړې موخې:** لوستوال به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته پر لاندې څېزونو برلاسي شي:

- د زېرمو سیاست او د پولي سیاست د قوي وسایلو په توګه د پیسو د وړاندې کولو د کنټرول په موخه د بانکونو د زېرمو ټاکل او د تادیاتو د بیلانس د توازن په موخه د ارزي سیاست توضیح.
- د ټولنې د حالاتو په پام کې نیولو سره له پولي تورم څخه د مخنیوي په موخه د تنزیل او نوي یا مجدد تنزیل عملیه.
- د هېواد د بانکي او پولي سیاست مطابق د پولي او مالي انبساطي او انقباضي سیاست.
- د افغانستان د مرکزي بانك ( د افغانستان بانك ) د پولي سیاست وسایل یا ابزار.

**د ازاد بازار سیاستونه یا د پرانیستي بازار کړنې:**
د مرکزي بانك تر ټولو ګټور ابزار د پرانیستي بازار کړنې ( عملیات ) دي.

دا سیاست د دولت له خوا د هر هېواد د مرکزي بانك په وسیله، په ټاکلي زمانه کې، نه په پرلپسې او مستمر ډول ترسره کېږي، چې په ډېری مواردو کې دا لنډمهاله سیاستونه مقطعي وي. مرکزي بانك د بیه لرونکو دولتي پاڼو د پېر او پلور له لارې کولی شي په ازاد بازار کې بانکي زېرمې کمې او زیاتې کړي. د بېلګې په توګه د تورم په حالت کې مرکزي بانك د ارزښت لرونکو اسنادو خرڅلاو ته په ازاد بازار کې اقدام کوي، چې په دې توګه بیې تر ممکنه بریده راټیټېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته خلك د دولتي لوړبيو اسنادو د پېرودنې په موخه سر بېره پر هغو پيسو چې په لاس كې يې لري، له خپلو سپماوو څخه چې له بانكونو يا نورو موسسو سره يې ايښې وي هم يوه برخه رااخلي او د ارزښتلرونكو دولتي اسنادو د پېرودنې له لارې يې هغه مركزي بانك ته لېږدوي، چې له بانكونو څخه د خلكو دا را اخيستنه، د دولتي قرضه اسنادو د پېرودنې په موخه ده، چې د دولتي پور اسنادو ګټه نظر امانتونو او سپما ته ډېره وي او همداشان ترجيح وركوي، چې د سپما په عوض چې د نسبتاً كمې ربحې لرونكي دي، دولتي پور اسناد وپېري او له لوړو ګټو يې برخمن شي، چې د دې تدبيرونو عملي كول په اقتصاد كې د پيسو د كموالي لامل كېږي او دا كموالى د دولتي پور اسنادو د پېرودونكو د پېر ځواك كموي، چې په پايله كې پر اقتصاد د تورم ضد اغېزې لوبېږي. له همدې امله د ازاد ماركيټ سياست د پولي تورم پر وړاندې د مبارزې په موخه د پولي سياست د مهمې وسيلې په توګه ګڼل كېږي.

هغه مهمه مسئله چې بايد په پام كې ونيول شي داده، چې د دولتي ارزښت لرونكو اسنادو خرڅلاو د ازاد بازار د سياست له لارې تل د تورم ضد وسيلې په توګه نه وي، ښايي د موجود تورم د پياوړتيا لامل هم شي.

بلاخره د ربحې د شديد نرخ له بدلونونو څخه د ځان ساتنې لپاره او په ناڅاپي پېروپلور د نامساعدو اغېزو د مخنيوي لپاره او په فوق العاده زياته مقايسه اقدام ونه شي، بلكې په تدريجي ډول اقدام وشي.

**د زېرمو يا ذخايرو سياست:**

قانوني زېرمې عمدتاً قانون د بانكي مكلفيتونو جز ګڼلى دى. ټول بانكونه ملكف دي، چې د خلكو د حقونو د ملاتړ په موخه د خپلې پولي پانګې يوه اندازه په بانك يا موسسه كې چې په قانون كې څرګند وي، كېږدي.

په حقيقي زېرمو كې بدلون د امريكا په متحدو ايالتونو كې د لومړي ځل لپاره د بيو د لوړوالي د مخنيوي په موخه د يوې پولي كړنلارې يا طرحې په توګه ومنل شو.

هر بانك نظر قانون ته د ديپوزيتونو يوه ټاكلې فيصدي قبلوي او په مركزي بانك كې يې ساتي. كه مركزي بانك او سوداګريز بانكونه وغواړي چې بيې د لوړ اقتصاد سطحې ته ورسېږي، په دې حالت كې ديپوزيتونه او حقيقي زېرمې لوړوي، يانې سوداګريز بانك غوښتنه كوي، چې ډېرې زېرمې په مركزي بانك كې خوندي كړي. برعكس كه مركزي بانك وغواړي پر اقتصادي فعاليتونو او پانګه اچونه باندې مطلوبې اغېزې پرېباسي، په دې حالت كې ديپوزيتونه او حقيقي زېرمې را ټيټوي او د سوداګريزو بانكونو زېرمې لوړوي. كه د سوداګريزو بانكونو زېرمې كموالى ومومي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې حالت کې پر اقتصادي فعالیتونو باندې منفي اغېزې اچوي، یانې سوداګریز بانکونه نه شي کولی پانګوالو ته د پام وړ پورونه ورکړي. په بله وینا د دې لپاره چې مرکزي بانك وکولی شي د پیسو د ورکړې میزان کنټرول کړي، د قانوني زېرمو لوړه کچه په پام کې نیول کېږي. قانوني زېرمه بانك ته دا امکان ورکوي، چې د ازاد بازار چارې د اقتصادي زېرمو له ثبات څخه په ډاډمنتیا سره ترسره کړي. مرکزي بانك د قانوني زېرمو د میزان په ټاکلو سره، تر هغه څه ډېر چې بانکونه یې غوښتونکي دي، کولی شي د زېرمو کچه وټاکي او په پایله کې په دقیق ډول د پیسو د وړاندې کولو یا عرضې سطحه کنټرول کړي. د دې چارې ځانګړې اغېزه د لنډمهاله ربحې پر نرخ د مرکزي بانك د کنټرول شدت دی. په هر حال مرکزي بانك او د یوې ټولنې پولي مقامات کولی شي د قانوني زېرمې بدلون د قوي پولي سیاست د یوې وسیلې په توګه د ټولنې د پیسو د عرضې پر میزان اغېزه وکړي، چې دا نسبت به له ۱۰ سلنې لږ او له ۳۰ سلنې ډېر نه وي.

**اسعاري سیاست:**

یو شمېر تدبیرونه د پیسو د مطلوب بهرني ارزښت په موخه په یوه ټاکلي وخت کې نیول کېږي.

له دې تعریف څخه داسې انګېرل کېږي، چې یو کورنی پولي واحد په څه اندازه او مقدار بهرنی پولي واحد یا د توکو یو واحد لاسته راوړلی شي. هغه لاملونه چې د پیسو پر بهرني ارزښت اغېزه لري، د یوه هېواد د تادیاتو د بیلانس وضع او حالت دی.

**د بیلانس تعریف:**

له نورو هېوادونو سره د یوه هېواد د ورکړو او لاسته راوړنو له ټولګې څخه عبارت دی. د یوه هېواد د تادیاتو د بیلانس د زیاتوالي یا کسر څرنګوالی د هغه هېواد پولي ارزښت اغېزمنوي.

که د تادیاتو په بیلانس کې کسر ولیدل شي، د اسعارو په مقابل کې د کورنیو پیسو د کموالي لامل کېږي، په دې مانا چې د اسعارو لپاره د غوښتنې ډېروالی د تادیاتو د بیلانس د کسر د له منځه وړلو په موخه وي او د کورنیو پیسو ارزښت د اسعارو په مقابل کې کموي او د هغه برعکس د اسعارو ارزښت ښیي، چې مرکزي بانك باید د پیسو د ارزښت د ټیټوالي د مخنیوي لپاره ټاکلي تدبیرونه ونیسي. د تادیاتو د بیلانس د زیاتوالي په صورت کې د اسعارو لپاره تقاضا کمه وي، چې اسعارو ته د تقاضا کمښت د اسعارو په برخه کې د ارزښت د کموالي مانا ورکوي. په درېیم صورت کې بیلانس ځانته مثبته بڼه غوره کوي او د اسعارو ورود نظر خروج ته ډېر وي.

په هر حال د اسعارو ارزښت هغه وخت ډېرېږي، چې تقاضا نظر عرضې ته ډېره وي، کله چې تقاضا نسبت عرضې ته کمه وي، ارزښت یې ډېروالی مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ووایو چې یو هېواد هغه وخت د اسعارو د ثابتې بیې د سیستم درلودونکی وي، چې خپل پولي سیاستونه د نورو هېوادونو له پولي سیاستونو سره همغږي کړي.

د بېلګې په توګه، که افغانستان د خپلو دودیزو پیسو او د پاکستان د کلدارو ترمنځ ټینګ تړاو رامنځ ته کړي، په ازاد بازار کې به یې خپله پانګه د همغې ربحې نرخ ولري، چې د پاکستان په بازارونو کې حاکم وي.

**تنزیل او د تنزیل مفهوم:**

**د تنزیل لغوي مانا:** تنزیل په لغت کې ښکته راوړلو، کمولو او ځای پر ځای کولو ته وایي او د مرکزي بانك د پولي سیاست له وسایلو څخه یوه وسیله ده.

**په اسلامي متونونوکې تنزیل:** ( د دین بیع ) هغه کلمه ده، چې په اسلامي فقه کې له تنزیل سره یو شان ماهیت لري او په اسلامي بانکوالۍ کې له هغې څخه د دین په خرڅلاو یا پېرودلو کې کار اخیستل کېږي.

د دین بیع په کم مبلغ سره د اوږدمهاله دین د خرڅلاو په مانا ده. په څرګند عبارت سره، دین د سوداګریزو پاڼو او اسنادو له تنزیل څخه عبارت دی، چې سررسید یې په راتلونکي کې دی. په دې ډول چې مثلاً د سفتې لرونکي بانك ته په مراجعې سره تر سررسید مخکې خپل طلب نقداً او په کم مبلغ سره ترلاسه کوي.

تنزیل په ساده ډول یوه بانکي چاره یا عملیه بلل شوې، چې د بانکونو له خوا تر کارونې لاندې نیول کېږي او د ترسره کولو ډول یې، لکه د ارزښت لرونکو اسنادو پر وړاندې د اجرااتو غوندې دی.

دا چې تنزیل د اوږدې مودې لپاره د نقدي طلب طبیعي پېرودل دي، چې د بیې طلب د تنزیل په ورځ کې د طلب په سند کې له درج شوي مبلغ څخه لږ وي او دا واټن هماغه ربحه ده، چې له طلب سره د هغې د وصول تر نېټې پورې تړاو لري.

اصطلاحاً دغه فاضل واحد د پولي محاسبې لپاره د تنزیل د ورځې د قېمت او د وصول د ورځې د طلب د قېمت ترمنځ تنزیل بلل کېږي.

د پانګوالۍ په نظام کې باید طلب د سوداګریزې راکړې ورکړې زېږنده وي، یانې هغه مدیونیت چې پیدا کېږي، د پیروپلور په پایله کې به وي او دویم دا چې موده باید له ۹۰ ورځو ډېره نه شي. دلیل یې دادی، چې بانك د وګړو د څرګندو سپارنو ( امانتونو ) پر بنسټ لنډمهاله اعتبار ورکوي او د طلب لرونکي ته د تنزیل موده د اعتبار د ورکړې په ډول باید له دریو میاشتو څخه، چې د لنډمهاله اعتبار حد دی، تجاوز ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه، د پرچون پلورنې لپاره له عمده فروشۍ څخه د مالي پيرودلو په ډول په سوداګريزو راکړو ورکړو کې د طلب له ورقو څخه د برآت او سفتې په ډول کار اخيستل کېږي. ځکه پرچون پلورنځي غالباً نه شي کولی د مال قېمت نغداً ورکړي. له دې امله عمده پلورنځي ته دنغدو پيسو پر ځای د طلب ورقې د حجت او برات په ډول ورکوي، ترڅو د پرچون پلورنې په پړاو کې د مالونو تر خرڅلاو وروسته لازم وجوه راټول او د پرچون پلورونکي سره يې همغږي ( کارسازي ) کړي. اوس که عمده پلورونکی وغواړي د اړتيا له امله خپل مدت لرونکی طلب نقد کړي، کولی شي د طلب سند بانك ته يوسي او د طلب وجه د نزول تر کسر وروسته نغداً ترلاسه کړي. د يادونې وړ ټکی دادی، چې د عمده پلورونکي يا څرګند پرچون پلورونکي طلب بايد د مالي راکړې ورکړې زېږنده وي، همداشان تنزيل د سوداګريزې راکړې ورکړې زېږنده نه وي، نو د دې حالت تکرار د ناوړه اقتصادي حالتونو لامل کېږي.

**مجدد تنزيل:**

مجدد تنزيل هغه تنزيل ته ويل کېږي، چې يو ځل بيا د تنزيل د عمليې وړ وګرځي. د مجدد تنزيل د نرخ بدلونونه د پولي سياست يو ډول نور وسايل دي، چې مرکزي بانك کولی شي د پولي تعادل او ارزښت ساتنې په موخه په بېلابېلو اقتصادي شرايطو او حالاتو کې له هغه څخه ګټه واخلي. مرکزي بانك د رکود او کسادي شرايطو په ترڅ کې چې معاملې په لازم ډول نه ترسره کېږي او توکي په ګودامونو کې پاتې کېږي او د پيسو حجم او کافي اعتبارونه نه وي، کولی شي د مجدد تنزيل نرخ راټيټ کړي، ترڅو بانکونه وکولی شي په مناسبو شرايطو کې مرکزي بانك ته مراجعه وکړي او خپل اوراق تنزيل کړي. د مجدد تنزيل نرخ هغه نرخ دی، چې سوداګريز بانکونه يې له مرکزي بانك څخه د اعتبارونو د ترلاسه کولو لپاره دغه بانك ته سپاري. مرکزي بانك ياد شوي اعتبارونه د ارزښت لرونکو پاڼو د مجدد تنزيل له لارې بانکونو ته ورکوي.

د مجدد تنزيل د عمليې اساسي ځای او مرجع سوداګريز بانکونه دي او دا بانکونه د تنزيل عمليه ترسره کوي. هغه اسناد چې د ټاکلي مبلغ لرونکي وي له هغه قېمت سره چې په سند کې ذکر دی، تر هغه په کم قېمت سره د مرکزي بانك په واك کې قرار مومي. که بانك نغدو پيسو ته اړتيا ومومي، ياد شوي اسناد مرکزي بانك ته وړي او د مجدد تنزيل غوښتنه کوي.

مرکزي بانك له پولي او بانکي سياستونو سره سم او د پولي حالت په پام کې نيولو سره د مجدد تنزيل د عمليې د ترسره کولو يا نه ترسره کولو اقدام کوي. په دې مانا که مرکزي بانك پر دې پوه شي، چې په ټولنه کې د پيسو د عرضې اړتيا ډېره ده، بايد د مناسب او مساعد اقتصادي حالت لپاره د پيسو د عرضې مقدار زيات کړي، چې په دې وخت کې مرکزي بانك د مجدد تنزيل نرخ راټيټوي او بانك د په لاس کې ارزښت لرونکو اسنادو مجدد تنزيل ته هڅوي، چې سوداګريز بانکونه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګریز اسناد مرکزي بانك ته وړي او مجدد تنزیل ورکوي. که چېرې مرکزي بانك دې پایلې ته رسېدلی وي، چې په اقتصاد کې د تورم حالت راڅرګندېږي یا انفلانسیون د پراختیا یا غوړېدو په حالت کې دی، مرکزي بانك د مجدد تنزیل نرخ لوړوي، ترڅو یو ممانعت رامنځ ته کړي، او د پیسو د عرضې له ډېروالي څخه مخنیوی وشي. په دې صورت کې مجدد تنزیل د مرکزي بانك د پولي سیاست د وسیلې په توګه د اجرا وړ ګرځي.

نو ویلی شو چې مرکزي بانك کولی شي د مجدد تنزیل د نرخ د لوړوالي یا ټیټوالي له لارې خپلې منل شوې ارزښت لرونکې پاڼې د پراختیایي یا انقباضي پولي سیاست په لازمو او اړینو برخو کې عملي کړي، ترڅو له دې لارې د بیو په استقرار کې خپله ونډه ترسره کړي. سربېره پر دې دې پایلې ته رسېږو، چې په پولي بازار کې د پیسو د اندازې ډېروالی د پانګونې درجه لوړه بیایي، د تولید د سعودي سیر لامل کېږي او د تولید ډېروالی د استخدام لامل کېږي او که په ټولنه کې د تورم حالت وي، مرکزي بانك د ارزښت لرونکو پاڼو د تنزیل نرخ د پاڼو له مجدد تنزیل څخه ژغوري او په اقتصاد کې د پیسو اندازه کموي او د بیو د وروستي لوړوالي څخه مخنیوی کوي.

**د ارزښت لرونکو اسنادو رهني سیاستونه:**

د تضمین سیاست یا د ارزښت لرونکو اسنادو او پاڼو رهن ته اېښودل، چې د سیاستوال له خوا د پولي جریاناتو د تنظیم لپاره ترسره کېږي.

معاملاتي بانکونه د نغدو پیسو او پولي امکاناتو د ترلاسه کولو لپاره، ارزښت لرونکې پاڼې مرکزي بانك ته د رهن په توګه سپاري. مرکزي بانك د خپلو پراختیایي یا محدودوونکو سیاستونو له مخې د مرکزي بانك کړنلاره د دې ډول پولي حرکت پر وړاندې تنظیموي. که چېرې مرکزي بانك درك کړي، چې په بازار کې د پیسو اندازه مخ پر کمېدو ده، بانك د ارزښت لرونکو پاڼو نغدولو ته هڅوي. د تضمین سیاست او د ارزښت لرونکو پاڼو او اسنادو ګروول یا رهن ته سپارل، د دې ډول سیاست یوه لاره ګڼل کېږي. کله کله بانکونه هم د قېمتي توکو او څیزونو په ګرو اېښودلو کې، په مرکزي بانك کې نغدې پیسې لاسته راوړي.

د ارزښت لرونکو پاڼو د تضمین د ربح نرخ نظر د مجدد تنزیل نرخ ته په عمومي ډول لوړ وي.

د افغانستان بانك، د ډېرو پانګونو او اقتصادي ودې په موخه او همداشان د افغانستان د بانکوالۍ د نظام د پرمختیا لپاره د منقولو اموالو رهني او د نامنقولو اموالو رهني قوانین تر تصویب لاندې نیولي. دا قوانین خصوصي او سوداګریزو بانکونو ته د پور اخیستلو زمینه برابروي. همداشان د خلکو لپاره د اعتبارونو او نورو بانکي خدمتونو لپاره د لاسرسۍ زمینه برابروي، ترڅو سوداګر له بانکونو پور واخلي او خپله سوداګري وغوړوي او بانکونه او مالي ادارې هم ډېر ډاډ ترلاسه کړي، چې رهني پورونه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پولي انبساطي سياست ( د پيسو په برخه کې ډېروالی )

دا سياست له رکود سره د مقابلې او بشپړ استخدام ته د لاسرسي په موخه غوره کېږي.

د بېلګې په توګه، مرکزي بانك له خلکو يا دولت څخه د پور د پاڼو د اخيستلو له لارې د پولي پايې د ډېروالي او د پيسو د حجم د ډېروالي لامل کېږي. د پيسو د حجم ډېروالی د ربحې د نرخ د ټيټوالي او د مجموعي تقاضا د زياتوالي لامل کېږي او په اقتصاد کې د خالي ظرفيت په شرايطو کې بشپړ استخدام ته د رسېدو يوه وسيله ګرځي. په بله وينا ويلی شو، کله چې مرکزي بانك تصميم ونيسي چې د پيسو عرضه د بازار د عملياتو له لارې لوړه کړي او په لومړي ګام کې د بازار عمليات نوې زېرمې د سيستم په د ننه کې تزريق کوي، د پيسو د عرضې مقدار لوړوي ( د عرضې منحني په ښي لوري تغيير کوي.) اوس د پيسو د عرضې اندازه، نسبت هغه مبلغونو ته چې کورنۍ غواړي ويې ساتي، ډېروي، چې په پايله کې د ربحې نرخ ټيټېږي.

د ربحې د نرخ په ټيټېدو سره د پلان شوې پانګونې لګښتونه ( چې د مجموعي لګښتونو يوه برخه ده ) ډېروالی مومي. دا ډېروالی په دې مانا دی، چې پلان شوي مجموعي لګښتونه اوس تر مجموعي توليد لوړ دي او شرکتونه ناپلان شوی کمښت په زېرمو کې تجربه کوي او توليد ته زياتوالی ورکوي.

د پيسو په برخه کې ډېروالی د ربحې نرخ را ټيټوي او مجموعي توليد ورسره زياتېږي او د توليد لوړه کچه پيسو ته تقضا ډېروي ( پيسو ته د تقضا منحني په ښي لوري تغيير مومي ) او دا د دې سبب کېږي، چې د ربحې نرخ راټيټ نه شي. د مرکزي بانك له خوا د پور د پاڼو پېرودل، چې د پولي انبساطي سياست په توګه تلقي کېږي، د ربحې د نرخ د ټيټوالي، پانګونې او توليد د ډېروالي او بلاخره په اقتصاد کې د لګښتي مخارجو د زياتوالي لامل ګرځي.

## پولي انقباضي سياست ( د پيسو کمښت )

دا سياست د تورم او د بيو له فشار سره د مقابلې په موخه ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، مرکزي بانك خلکو ته د پاڼو د پلور يا د نرخ د لوړولو له لارې د پيسو د حجم قانوني زېرمه کموي. د معاملاتي تقاضا او ملي عايد د کمولو له لارې د پيسو د حجم کمول، استخدام راټيټوي او د تورمي فشارونو مخه نيسي. په بله وينا پولي انقباضي سياست د مجموعي توليد د کمولو په موخه د پيسو په برخه کې يو کموالی دی. پوهېږو چې د پلان شوې پانګونې سطحه د ربحې له نرخ سره معکوسه اړيکه لري، هرڅومره چې د ربحې نرخ لوړ وي، پلان شوې پانګونې او په همدې ترتيب د توليد د تعادل سطحه کمېږي، چې دا کموالی د پيسو د تقاضا د کموالي لامل ګرځي.

فرض کړئ، چې اقتصاد له مجموعي تقاضا سره مخ دی او هغو وسايلو ته اړتيا لري، چې مجموعي تقاضا محدوده کړي، چې په دې ترتيب مرکزي بانك پولي انقباضي سياست غوره کوي، په ازاد بازار کې د قرضې د پلورلو اقدام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مالي سياست Fiscal Policy**

مالي سياست د سياست او اقتصاد د تلاقي له ټکو څخه دی، ځکه سياست د موخې يا موخو د ټاکلو په برخه کې مهم رول لري. کله چې دولت له ټولنيزو مسايلو او له هغو څخه د زېږېدلو سياسي مسايلو سره لاس او ګرېوان وي، داسې لاره غوره کوي، چې د هغو په حل يا تخفيف باندې تمامه شي. د بېلګې په توګه ځينې دولتونه د ټاکنو پر مهال د تورم د کمښت او د عامه سوکالۍ او بلاعوضه مرستو د ډېروالي سياست غوره کوي. په هغه صورت کې چې د دولت مهمه موخه د اقتصادي تړاو کمښت او د خپلواکۍ ساتنه وي، دوي هڅه کوي په خپلو اسعاري لګښتونو کې په داسې ډول سپما وکړي، چې تر ډېره بريده بهرنيو هېوادونو ته د تادياتو د بيلانس له کسر سره مخ نه شي او په هغه صورت کې چې بېکاري يوه لويه ستونزه وي، اصلي موخه د استخدام رامنځ ته کول او د توليد ډېرول په پام کې نيسي او يادو موخو ته د رسېدو لپاره مناسب مالي سياست غوره کوي او په هغه صورت کې چې لويه ستونزه تورم وي، مالي سياست تورمي ضد بڼه ځان ته غوره کوي.

**نو د پورته ټکو په پام کې نيولو سره ويلی شو، چې:**

**الف: د دولتي لګښتونو تغيير:** ياني کله چې مجموعي لګښتونه کم شي او دولت له بې ځايه لګښتونو ډډه وکړي. د دې حرکت په پايله کې د دولت د توقع وړ اجناسو تقاضا کمېږي او ورپسې په خپلسرې توګه بيې خپل نزولي سير غوره کوي.

**ب: د مالياتو د مقدار تغيير:** بل هغه سياست چې دولت کولی شي د هغه په مرسته انفلاسيون کم کړي، د مالياتو ډېروالی دی، چې په محسوس شکل د عوايدو د لرونکو پر مجموعي تقاضا باندې اغېزه کوي او وګړي هڅه کوي، چې د څيزونو او خدمتونو له ډېر اخيستلو څخه ډډه وکړي او د دې کړنې په پايله کې هم بيې صعودي سير ځان ته غوره کوي.

**د انبساطي سياست اغېزې**

هر هغه سياست چې موخه يې د مجموعي توليد تحريك کول وي، توسعوي سياست دی. مالي توسعوي سياست د دولت په لګښتونو کې ډېروالی ( G ) يا په خالصو مالياتو کې کموالی دی، چې موخه يې د عايد د مجموعي توليد ( Y ) زياتوالی دی. پولي توسعوي سياست د پيسو د عرضې يو ډېروالی دی، چې موخه يې د مجموعي توليد ډېروالی دی. انبساطي سياستونه هم د اقتصادي ودې په موخه کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د انقباضي سیاست اغېزې**

د دولت هر سیاست چې موخه یې د مجموعي تولید ( عاید ) کموالی وي، انقباضي سیاست بلل کېږي. انقباضي سیاستونه د اقتصادي فعالیتونو د ورو ( بطي ) کولو لپاره ترسره کېږي. لکه څنگه چې پوهېږو د اقتصادي سیاست یوه عمده موخه اقتصادي وده ده، مگر ولې دولت دا ډول سیاست غوره کوي.

کله چې انفلانسیون لوړ وي، دولت ښایي دې ډول سیاست ته اقدام وکړي، چې د هغه په وسیله اقتصادي سیاستونه ورو کړي.

**د افغانستان بانك د پولي سیاست وسایل**

- لیلام د افغانستان بانك د پولي سیاست له وسایلو څخه یوه وسیله ده، چې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت او ثبات ساتلو لپاره ترسره کېږي. په بازار کې له اړتیا څخه د ډېرو افغانیو شتون د بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت کموي. د لیلام کار په اونۍ کې دوه ځلې ترسره کېږي او د ( MIF ) د نړیوال صندوق د پلاوي د لارښوونې مطابق او د افغانستان بانك رهبرۍ په لارښوونه او د اکشن د کمېټې د پرېکړې د تصمیم له مخې ترسره کېږي.

د حاضرو اسعارو لیلام د پولي سیاست د وسایلو په توگه د مرکزي بانك په واسطه کارول کېږي، خو د اوږدې مودې لپاره دا سیاست مناسب نه دی، ځکه د بهرنیو پیسو د کموالي یا د بانك د اسعاري زېرمو د کمښت لامل کېږي او د هېواد اقتصاد ته زیان رسوي.

- د پولي سیاست دویمه وسیله د دولتي ارزښت لرونکو اسنادو ( کاپیټال نوټ ) دی چې د مرکزي بانك له خوا په اونۍ کې یو ځل کاپیټال نوټ د مزایدې له لارې پر خصوصي او سوداگریزو بانکونو پلورل کېږي، چې سرمایوي پانګې په لومړي قدم کې د څلورویشتو ساعتونو لپاره رامنځ ته او وروسته په ۱۳۸۵ کال کې مرکزي بانك سرمایوي پانګې د هغو تر ارزښت په ټیټه بیه د سوداگریزو بانکونو په گټه د ۵۶ ورځو په میعاد وړاندې کړې.

د وخت په تېرېدو سره همدغه ارزښت لرونکي اسناد په ۲۸ او ۱۸۲ ورځو بدل شول، چې دا کار ( د ارزښت لرونکو اسنادو وړاندې کول ) په بازار کې کولی شي د هر ډول مبادلوي شرایطو په ترڅ کې د پیسو په ثبات کې غوره رول ولوبوي او د خصوصي او نورو بانکونو لپاره اسانتیاوې رامنځ ته کړي. البته د دې سرمایوي پانګو اغېزې به پر مرکزي بانك وي، چې کولی شي د یوې ښې وسیلې په توگه د بیو د ثبات او د مبادلې د نرخ نوساناتو لپاره له هغه څخه کار واخیستل شي او د دې بهیر په ودې او پرمختیا سره د اکشن اندازه او دفعات راټیټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وروسته د افغانستان بانك د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ثبات او ارزښت ساتلو په موخه د معقولو سياستونو په طرحه كولو لاس پورې كړ، ترڅو د سياليت او واقعي اړتيا ساتنې په موخه اقتصاد او ماركيټ په نغدو افغانيو اندازه او د موسمي اړتياوو مطابق افغانۍ په جريان كې وساتي. په هغه صورت كې چې د اړتيا له اندازې څخه زياتې يا كمېږي، د افغانۍ ارزښت اغېزمنېږي. په هغه صورت كې چې د افغانستان بانك د سياليت له لړوالي سره مخ شي، د نويو پيسو د نشر د مخنيوي په موخه د اكشن له لارې ډالر له جريان څخه باسي له يوې خوا د پيسو د بې ارزښتوب مخه نيسي او له بلې خوا د بانك پولي سياست ساتي.

**د دويم څپركي د مطالبو لنډيز**

په دې څپركي كې د پولي سياست د وسايلو رول او اهميت، چې د پرانيستي بازار عمليات، د تنزيل سياست او د قانون ذخيره په كې شامل وو، ترڅېړنې لاندې ونيول شول.

په دې مطالبو كې مو وليدل چې د تنزيل د سياسي ستونزو او قانوني ذخيرې له پلوه د پولي سياست تر ټولو مناسب وسايل د پرانيستي بازار عمليات دي.

همداشان په دې برخه كې مو وليدل، چې رهني، انبساطي او انقباضي سياست د پورتنيو وسايلو ترڅنگ په بېلابېلو څانگو كې د سوداگرو لپاره د وگړنيزو او ټوليزو پورونو د زمينې د مساعدوالي او د سوداگريزې پانگونې د پراختيا او پرمختيا په موخه هم كارول كېږي.

وروسته د انبساطي سياستونو په اړوند بحث كې وليدل شول، چې مركزي بانك د ازاد بازار له لارې د نويو زېرمو په تزريق سره د پيسو مقدار زيات او د عرضې منحني په ښي لوري تغيير كوي، چې د ربحې د نرخ د كموالي لامل كېږي او دا كار د پلان شوې پانگونې د ډېروالي او بلاخره د توليد او له دې امله پيسو ته د تقاضا د سطحې د لوړوالي لامل گرځي او برعكس ومو‌ليدل چې انقباضي سياست د پيسو د عرضې د كمښت او د مجموعي توليد د كموالي لامل كېږي او پيسو ته تقاضا كمېږي.

د څپركي په پای كې مو مالي سياست وڅېړه او وليدل شول، چې په بېلابېلو حالتونو كې يې پر اقتصاد بېلابېلې اغېزې درلودې او د دې سياست په اغيزمنه توگه كارولو سره په ټولنه كې انفلاسيون كمېږي. همداشان د پولي سياست له وسايلو سره چې په افغانستان كې د افغانستان بانك له خوا ورڅخه كار اخيستل كېږي بحث وكړ، ترڅو زده كوونكي د دې موضوعگانو په درك سره وكولی شي په عمل او ټولنيزو چارو كې له هغو څخه گټه واخلي او د اقتصادي موخو د ترلاسه كولو په لار كې يې وكاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دويم څپرکي پوښتنې**

۱ – د پيسو د عرضې د کنټرول وسايل عبارت دي له: الف: د پرانيستي يا ازاد بازار عمليات
ب: قانوني زېرمې ج: د تنزيل سياست

دا وسايل د پيسو پر عرضې د چټکتيا د نرمښت ( انعطاف منلو ) او د بېرته نه را ګرځېدو ( برګشت ناپذيري) له پلوه سره پرتله کړئ؟

۲ – ځينې وختونه تاسې له ورځپاڼې يا رسنۍ څخه خبرېږئ، چې مرکزي بانك د نرخ د تنزيل د کموالي اقدام کړی او يا يې د اسعارو ليلام ته مخه کړې. ايا د دې وسايلو کوم يو د پولي انبساطي سياست لامل کېږي، ولې او ولې نه؟

۳ – د نوي کال د لمانځلو لپاره چې خلك ډېرې پيسې ورته ساتي، اغېزې يې د پيسو پر حجم څه ډول دي او د پولي وسايلو د ګټې اخيستلو څرنګوالی تجزيه او تحليل کړئ؟

۴ – کله چې بيې پورته يا ښکته لاړې شي، مرکزي او سوداګريز بانکونه بايد کومې کړنلارې غوره کړي، منطقي استدلال وکړئ؟

۵ – د اسعارو ارزښت څه وخت ډېرېږي، واضيح يې کړئ؟

۶ – په اسلامي متونو کې د تنزيل په هکله رڼا واچوئ؟

۷ – انبساطي او انقباضي سياست په لنډ ډول يو له بل سره پرتله کړئ؟

۸ – د مجدد تنزيل عمليه د کومو بانکونو له خوا ترسره کېږي، واضيح يې کړئ؟

۹ – تنزيل تعريف او په بېلګه کې يې وښاياست؟

۱۰ – که د تنزيل عمليه د سوداګريزو راکړو ورکړو زېږنده نه وي، تکرار يې څه پايلې لرلای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د بودیجې د کسر او اضافي نوټونو د نشر سیاست

**ټولیزه موخه:**
د بودیجې د کسر او اضافي نوټونو د نشر سیاست، د تادیاتو د بیلانس کسر، د تورم د لاملونو تشخیص او نااقتصادي لاملونه

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په لوستلو سره به لوستوال پر لاندې موضوعګانو پوه شي:

- د پور زیاتوالی یا بانکي اعتبارونه.
- د پولي تورم د لاملونو تشخیص.
- د تادیاتو د بیلانس کسر.
- پر پولي تورم باندې د نفوسو د زیاتوالي او د پانګونې د پراختیا اغېزې.
- د پولي تورم غیراقتصادي لاملونه.
- د تورم په مخنیوي کې د مرکزي بانك رول.

کله چې د یوه هېواد لګښتونه نظر عوایدو ته په یوه بودیجوي یا مالي دوره کې ډېر وي، د هېواد بودیجه له کسر سره مخ کېږي. دا کسر د اضافي نوټونو د نشر له لارې ټمویلېږي او په اقتصاد کې د پیسو اندازه ډېرېږي او په آزاد بازار کې د ربحې د نرخ د لوېدو لامل کېږي.

ځکه ربحه په پانګونو کې د ټمام شوي لګښت د مهم قلم په توګه یادېږي، چې لوړېدل یې د ټول کار د محصولاتو د بیې د لوړېدو لامل کېږي او د امتعې مصرفوونکي زیانمنېږي او هم په کورنیو او بهرنیو بازارونو کې د سیالۍ د قدرت د کمزورتیا لامل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اضافي نوټونو د نشر په وسیله د دولت د بودیجې د کسر تمویلول ځینې زیانونه هم لري، خو باید وویل شي چې د دولت له خوا د دې ډول سیاست کارونه د بېلابېلو موخو د ځار او عملي کېدو په خاطر وي، چې مهمې موخې یې په لاندې ډول دي:

- د اضافي پیسو د نشر په وسیله د بودیجې د کسر سیاست کېدای شي د پېرودلو د قدرت د لوړتیا په موخه صورت ومومي، چې له همدې امله د بودیجې د کسر سیاست د پېرودلو د قدرت د لوړوونکي سیاست په نامه هم یادېږي. په دې ډول سیاست کې دولت هڅه کوي، چې د دولتي کارکوونکو د پېرودلو قدرت مستقیماً لوړ کړي او دا لوړتیا د اقتصاد پر لاملونو باندې اغېزې کوي، چې د دولتي کارکوونکو د تقاضا لوړېدل، د هغو کسانو عواید لوړوي چې دا ځیزونه خرڅوي.

- د بودیجې د کسر سیاست او د اضافي نوټونو د نشر له لارې د هغه تمویلول د دولت د پانګونې د تمویل په موخه صورت مومي. د بېلګې په توګه د اضافي نوټونو د نشر له لارې د پراختیایي، پوځي، ودانیزو او نورو پروژو تمویلول په اقتصاد کې د پیسو د اندازې د ډېروالي لامل کېږي، نو له دې امله پر استخدام، د ربحې پر نرخ، د تولید او پانګونې پر ډېروالي او نورو ساحو باندې اغېزې کوي.

پورتنی سیاست د دې لپاره ځارل کېږي، چې نسبت مالیاتي تمویل ته، د دولت لپاره ساده دی، ځکه مالیاتي تمویل له تخنیکي او اقتصادي پلوه ډېرې ستونزې لري او هم اوږده وخت ته اړتیا لري.

- که چېرې دولت خپلې پروژې د مالیاتو له لارې تمویل کړي، د دولت د لګښتونو زیاتوالی په اقتصاد کې د پیسو د زیاتوالي لامل نه کېږي، ځکه د دولت د لګښتونو زیاتوالی د مالیاتو د ډېروالي د ترلاسه کولو له لارې د دولت د لګښتونو د ډېروالي د تاثیر سبب له منځه وړي.

- د دولت د بودیجې کسر، کله چې د خصوصي سکتور له لارې تمویل شي، دوه حالته موجود دي:

که خلک دولت ته پور ورکړي، چې پیسې یې په تولیدي بهیر کې شاملې شي، عین اغېزې ښندي.

او که چېرې خلک دولت ته پور ورکړي، چې پیسې یې په اقتصادي دوران کې شاملې نه شي، یانې پیسې یې د غیر تولیدي زېرمو په شان وساتل شي، په دې صورت کې د پیسو د دوران د چټکتیا لامل کېږي او بیې ورسره لوړېږي.

**د پورونو ډېروالی یا بانکي اعتبارونه:**

د بانکي پورونو ډېروالی باید د بانکي سیاست مطابق ترسره شي، په دې مانا ، کله چې د بانکونو موخه پراختیایي یا توسعوي سیاست وي، د قانوني زېرمو اندازه راټیټوي او د هغې مطابق کولی شي ډېرکرېډېټونه ورکړي، چې د هغو له امله د اعتباري پیسو حجم ډېرېږي او د اقتصاد په دوران کې د پیسو حجم ډېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله پلوه د سوداګریزو بانکونو د زېرمو ډېروالی هم  په ډېروالي ( د دې موسسو د اعتبار ورکولو ظرفیت او د پیسو د عرضې ډېروالي منځ ته راوړي) همداشان ارزښت لرونکې پاڼې چې نوې خپرېږي، د اعتبارونو د عرضې د ډېروالي لامل کېږي. د بېلګې په توګه که دولت د یو ملیون ډالرو د خرڅلاو په مشارکت لاس پورې کړي، په بازار کې لومړنۍ ارزښت لرونکې پاڼې خرڅېږي، چې په دې شرایطو کې د اعتبارونو عرضه په همدې میزان په ټولنه کې ډېروالی مومي.

**د غیر تولیدي زېرمو د کارولو له لارې د پیسو د دوران د چټکتیا لوړېدل:**

که د بېلابېلو لاملونو له مخې پیسو ته تقاضا زیاته شي او زېرمه شوې پیسې نوي دوران ته واچول شي، په دوران کې د پیسو حجم د پیسو د دوران د چټکتیا د لوړتیا له لارې لوړ ځي او بل مهم لامل د اقتصاد په دوراني لامل کې د زېرمه شویو پیسو په دوران کې اچول دي. په دې مانا چې اقتصادي لاملین په راتلونکي کې د پیسو د ارزښت په اړه څه ډول فکر لري.

که چېرې اقتصادي لاملین د بیو لوړوالی په راتلونکي کې اټکل کړي، په دې صورت کې د خپلو زېرمه شویو پیسو په وسیله ځیزونه پیري، چې په اقتصاد کې د پیسو د دوران د چټکتیا د ډېروالي لامل کېږي او په دې توګه بیې ورسره لوړېږي.

برعکس که همدا لاملین په راتلونکي کې د ټیټو بیو اټکل وکړي، په دې صورت کې ځیزونه پلوري او پیسې زېرمه کوي، چې د پیسو د دوران چټکتیا کمېږي او بیې ټیټېږي. د پیسو د زېرمو د کارولو لپاره بل لامل د ربحې د بیې لوړوالی دی، چې مالکین غېرتولیدي سپماوې یا زېرمې تشویقوي، ترڅو د ډېرې ګټې د ترلاسه کولو په موخه خپلې زېرمه شوې پیسې په دروان کې اچوي، پور ورکوي او د پولي تقاضا ډېروالی د ربحو د نرخ پر زیاتوالي ټامېږي او همداشان د ارزښتلرونکو اسنادو د بیو په ټیټوالي سره د ربحې نرخ هم ډېروالي مومي.

**د تادیاتو د بیلانس کسر:**

مخکې له دې چې د تادیاتو د بیلانس د کسر په اړه یو څه زده کړو، لازمه ده د تادیاتو د بیلانس په اړه یو څه خبرې وکړو.

**د تادیاتو بیلانس Balance of Payment (BOP)**

د تادیاتو بیلانس اقتصادي احصایوي لېست یا حساب دی، چې د یوه دولت ټولې اقتصادي معاملې له نورې نړۍ سره په یوه ټاکلې موده کې ثبتوي. همداشان د تادیاتو بیلانس د اقتصادي پالیسیو په جوړولو او غوره کولو کې مهم رول لري. ځکه د تادیاتو بیلانس د دولت له بودیجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمع د سپماوو او پانگونو بیلانس سره مساوي دی او د تادیاتو د بیلانس جاري حساب د ملي تولیداتو یوه برخه ده او په عین حال کې د تادیاتو د بیلانس مالي حساب او پولي پانگه له پولي سروې سره اړیکه لري. په دې توگه ویلی شو چې د تادیاتو په بیلانس کې اقتصادي اغېزې شته او هم د تادیاتو د بیلانس بې توازني دوه لاملونه تشکیلوي، چې یو یې د تبادلې نرخ او د بیو او مزدونو د سطحې لوړوالی او هم د پیسو د داخلي ارزښت راټیټېدل دي.

اسعارو ته د تقاضا ډېروالی د پیسو د داخلي ارزښت د ټیټېدو لامل کېږي او اسعارو ته د تقاضا ډېروالی د تادیاتو د بیلانس د کسر د له منځه تلو سبب گرځي او د اسعارو پر وړاندې د پیسو داخلي ارزښت راټیټوي.

لکه څنگه چې په مخکېني بحث کې مو هم وویل، د تادیاتو په بیلانس کې کسر دا مانا ورکوي، چې اسعار یا سره زر بهر ته جریان پیدا کوي، یانې د تادیاتو په بیلانس کې کسر په یوه هېواد کې د پیسو د عرضې ډېروالی څرگندوي او د یوه هېواد د تادیاتو د بیلانس کسر هغه وخت منځ ته راځي، چې بهرنیو هېوادونو ته د یاد هېواد ورکړې ( پرداختونه )، نظر ترلاسه کولو ته ډېرې وي.

هغه هېواد چې د تادیاتو د بیلانس له کسر سره مخ وي دې ته اړ او مجبور دی، چې له بهرنیو هېوادونو، نړیوالو پولي او مالي موسسو څخه پور یا لنډمهاله اعتبار واخلي، چې په دې سره بهرنۍ پانگونه هېواد ته داخلېږي، چې د تادیاتو د بیلانس له کسر سره متناسب پیسې ډېرېږي.

## انفلانسیون ( پولي تورم )

### ۱ - د پولي تورم یا انفلاسیون تشخیص:

انفلاسیون یوناني کلمه ده، چې د تورم یا پړسوب مانا ورکوي. د تورم کلمه د پړسوب په مانا ده، خو په ورځنیو اقتصادي بحثونو کې د یوې اقتصادي اصطلاح په توگه بېلابېل تعبیرونه لري، لکه د پیسو د ارزښت ټیټېدل، د ټولنې په دوران کې د پیسو د حجم زیاتوالی، د بیو د سطحې لوړوالی، د لگښتونو ډېروالی او نور. نو پر دې بنسټ د انفلاسیون لپاره یو ځانگړی تعریف اسانه کار نه دی. خو په ساده ډول په اقتصاد کې د بیو د کچې لوړوالي ته انفلاسیون وایي. ډېری اقتصادپوهانو دا تعریف هم وړاندې کړی دی: ( نظر عرضې ته د تقاضا ډېروالی ).

نن ورځ د انفلاسیون لپاره دقیق او جامع تعریف دادی، چې انفلاسیون له هغې پېښې یا پدیدې څخه عبارت دی، چې نظر عمومي عرضې ته د عمومي تقاضا د ډېروالي له امله اقتصاد د بیو په عمومي سطحه کې په صعودي شکل منځ ته راځي.

په دې تعریف کې مهم ټکی دادی، چې د تورم په حالت کې اړینه او حتمي نه ده، چې د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیزونو بیې لوړې شي، بلکې دا شونتیا هم شته، چې د ځینو ځیزونو بیې ټیټې هم شي، خو اساسي ځیز دادی، چې د هغه وروستۍ پایله د بیو د سطحې په صعودي شکل راڅرګندېږي.

په انفلاسیون کې بنسټیز شرط دادی، چې د بیو د سطحې لوړوالی آني او لنډمهاله بڼه نه لري، بلکې مداومه بڼه لري. د ځینو فوق العاده او غیرمترقبه لاملونو پر بنسټ بیې په آني ډول لوړېږي او تر یوې لنډې مودې وروسته بېرته ښکته کېږي، چې دې حالت ته انفلاسیون نه ویل کېږي. د تورم فیصدي په بازار کې د بیو د ارزونې په موخه مهم معیار ګڼل کېږي، چې دا فیصدي هر کال د مرکزي بانك او د هر هېواد د اقتصادي مسوولانو له خوا محاسبه او اعلانېږي.

د انفلاسیون په حالت کې کله چې د یوه هېواد ملي پیسې د ارزښت له ټیټوالي سره مخ شي، د ټولنې وګړي کوښښ کوي، چې خپلې پیسې په ارزښتمنو ځیزونو یا اسعارو باندې بدلې کړي، په دې تصور سره چې په راتلونکي کې به د پیسو ارزښت نور هم ټیټ شي. چې په دې سره د ځیزونو د تقاضا میزان په شدت سره ډېرېږي او د دې عملیې په ترڅ کې بیې د لوړوالي په لور ځي.

پر دې بنسټ پورتنیو څرګندونو ته په پام سره ډېری وګړي دا تصور کوي، چې انفلاسیون یوه منفي اقتصادي ځانګړنه ده، چې پر ټولنه نا مطلوبې اقتصادي اغېزې اچوي او د اقتصادي بې ثباتۍ لامل ګرځي. خو په حقیقت کې دا کار د یوه اقتصاد پوه له انده تورم تل د یوې نامطلوبې اقتصادي اغیزې په توګه نه بلکې ځینې وخت کولی شي مساعدې اقتصادي اغېزې ولري، لکه د پانګونې د کچې لوړوالی، د استخدام د کچې لوړوالی، او د داخلي تولیداتو د سطحې لوړوالی. لکه څنګه چې وویل شول انفلاسیون د ټولنې د چلند پیسو د حجم د زیاتوالي او د پیسو د ارزښت د ټیټوالي او نورو لاملونو په پایله کې منځ ته راځي. یانې کله چې مرکزي بانك د پیسو په نشر لاس پورې کوي، په ټولنه کې د پیسو حجم ډېرېږي او وګړي هڅول کېږي چې د خپلو لګښتونو میزان لوړ کړي. د تقاضا او لګښت تر لوړېدو وروسته په مارکېټ کې بیې هم لوړېږي او د انفلاسیون حالت منځ ته راځي.

انفلاسیون ډېرې ناوړې او نامطلوبې اقتصادي او ټولنیزې پایلې لري ، که چېرې پر وخت یې پر وړاندې مبارزه ونه شي، د واکمنو سیاسي رژیمونو د له منځه تګ او نویو سیاسي نظامونو د منځ ته راتګ لامل هم کېدای شي.

د بېلګې په توګه په ۱۹۸۸ کال کې د روسي روبل د ارزښت د ډېر ټیټوالي له امله یوه راپورټر له مسکو څخه خبر ورکړ، چې ( په داسې حال کې چې پیسې لا هم ارزښت لري، ډېری خلك په چټکۍ سره د روبل پر خرڅلاو بوخت دي، چې ارزښت یې د له منځه تلو په حال کې دی. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تورم علتونه:**

تورم یا پړسوب ډېر علتونه لري، چې هر علت په خپل وار سره پر بیو باندې بېلابېلې اغېزې لري، چې د دې علتونو موضوع په دوو کټګوریو وېشو:

**لومړی:** د تورم اقتصادي علتونه، چې اقتصادي منشأ لري او په لاندې ډول دي:

**د عمومي عرضې پر وړاندې د عمومي تقاضا ډېروالی:**

مجموعي تقاضا څه شی ده؟ یانې په یوه معلومه موده کې په اقتصاد کې د بېلابېلو څانګو د مجموعي لګښت میزان.

مجموعي تقاضا (اغلب هغه د AD پر مخففو تورو هم څرګندوي، د دولتونو او سوداګریزو مرکزونو د لګښتونو د میزان مجموعه ده او سطحه یې هم د پولي او مالي سیاستونو د بیو له سطحې سره تړاو لري. په اقتصاد کې د عمومي تقاضا زیاتوالی د پولي تورم له مهمو لاملونو څخه بلل کېدای شي.

**د پیسو د مقدار ډېروالی**

په اقتصاد کې د پیسو د اندازې ډېروالی، د تولید د حجم او موجود تولید قېمت له مناسب ډېروالي پرته، ډېروالی مومي، یانې د بیو یا قېمتونو د لوړوالي لامل کېږي.

د پیسو د اندازې زیاتوالی د دې لامل کېږي، چې خلك ډېره لګښت وکړي او د پیسو ډېر مصرف د دې لامل کېږي چې کلنی عاید لوړ شي. که ملي تولید ثابت وي، د پیسو د حجم ډېروالی پر بیو اغېزه کوي او لوړېږي. همداشان د پیسو عرضه ممکن د بېلابېلو دلایلو له امله لکه د دولتي مخارجو ډېروالي، د بودیجې د کسر د سیاست له لارې او د بانکي سیستم په وسیله د بودیجې د کسر د تامین له لارې ډېروالي ومومي. خو دا چې ولې د پیسو د عرضې ډېروالی د بیو د لوړوالي لامل کېږي، په لاندې ډول دلیل راوړلای شو.

د پیسو له عرضې څخه د زېږنده انفلاسیون لپاره د علماوو ساده توجیه کولی شو د کلاسیکو پیسو د مقدار نظریې ته په پام سره تحلیل کړو. د پیسو په برخه کې هر ډول ډېروالی، په هغو شرایطو کې چې واقعي لاسته راوړنې او عواید هغو ته مناسب ځواب ونه وایي، د بیو د عمومي سطحې د لوړېدو لامل کېدای شي او په پایله کې د مجموعي تقاضا د ډېروالی او انفلاسیون حالت منځ ته راوړلی شي.

همداشان د پیسو د مقداري نظریې پر بنسټ: د هغو پیسو اندازه چې په جریان کې دي او د بیو د عمومي سطحې ترمنځ یو اساسي تناسب شتون لري. یانې د پیسو په عرضه کې ۱۰ سلنه لوړوالی – ټیټوالی د بیو د ۱۰ سلنه لوړوالي – ټیټوالي لامل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه يوه بله بېلگه هم لرو، چې د جگړې په حالت کې د دولت عوايد کال په کال په ډېره پيمانه کمېږي او د دولت د خپلې بوديجې کسر د اضافي نوټونو د چاپ او خپراوي له لارې تمويلوي. د پيسو د دې ډېروالي په مقابل کې چې په توليداتو کې مطابقت كوونكى ډېروالى په داخلي توليداتو او وارداتو کې شتون ونه لري، د تورم د پياوړتيا لامل کېږي. دا چې ولې اقتصادي مسوولان د اضافي نوټونو د خپرولو له زيانونو سره سره بيا هم په دې کار لاس پورې کوي، څرگنده نه ده. البته په جگړه ييزو شرايطو کې له نورو سرچينو څخه د دولت د عوايدو لوړول ناشوني دي، له همدې امله دولت له دې امکانه گټه اخلي، له دې پرته ماته خوري او له منځه ځي.

**د پيسو د دوران د چټكتيا ډېروالى:**


د پيسو د دوران چټكتيا د تقاضا د ډېروالي يو بل لامل دى، چې تورم ته لار پرانيزي. په هېواد کې د پيسو د دوران چټكتيا پر راتلونكې اقتصادي وضعې د بې باورۍ پر بنسټ د تورم د تقويې لامل کېږي، ځکه خلك غواړي خپلې پيسې پر ارزښتمنو شيزونو او همداشان په نامنقولو اموالو او نورو اسعارو باندې بدلې کړي، چې دا کار په اقتصاد کې د مجموعي تقاضا د ډېروالي لامل کېږي او پولي تورم ورځ په ورځ قوي کوي، چې غوره بېلگه يې موږ په افغانستان کې پر ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کلونو کې وليده.

**د اسعارو د تبادلې د نرخ لوړېدل**

ټولنې ته د پام وړ بهرنيو اسعارو د وارېدېدو ډېروالى د تبادلې د نرخ د لوړېدو لامل گرځي. د اسعارو د تبادلې په نرخ کې مثبت بدلونونه او د افغانۍ د ارزښت لوړېدل مرکزي بانك دې ته اړباسي، چې د پولي سياست نوې لار ولټوي، ترڅو د هغې پر بنسټ د اسعارو د تبادلې نرخ کنټرول کړي. ځکه د افغانۍ پر وړاندې د اسعارو د تبادلې د نرخ لوړېدل د انفلاسيون له لاملونو څخه دي او د وارده پولي تورم په نامه يادېږي. د بېلگې په توگه په ۱۳۶۹ کال کې نظر ۱۳۵۷ کال ته په منځنۍ کچه شاوخوا ۲۱ ځله د اسعارو د تبادلې نرخ لوړ تللى او تر ۱۳۶۰ کاله پورې يو ډالر د ۶۰ افغانيو معادل و او تر لنډمهاله اداري مخکې يو امريکايي ډالر د ۷۰۰۰۰ افغانيو معادل و، چې نظر د افغانۍ ارزښت ته فوق العاده لوړوالى ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ۱۳۸۵ کال کې د افغانۍ پر وړاندې د امریکايي ډالر د میاشتني نرخ اوسط**




### په نړیواله کچه د بیو لوړوالی:

د نړۍ په اقتصاد کې د نفتو او خوراکي توکو د بیو د لوړوالي منفي اغېزې، تر ډېره د وارداتو له لارې په هېواد کې د بیو د لوړوالي لامل کېږي. دا ډول پولي تورم د وارد شوي پولي تورم په نامه یادېږي، په ځانګړې توګه په مخ پر ودې هېوادونو لکه په افغانستان کې، چې له ګاونډیو او نورو هېوادونو څخه د توکو د وارېدولو له لارې منځ ته راځي.

### د بانکي کرېډېټونو پراختیا:

بل هغه لامل چې په اقتصاد کې د مجموعي تقاضا د لوړوالي لامل ګرځي، د کرېډېټونو زیاتوالی دی، چې سوداګرو ته ورکول کېږي او تر ډېره بریده مصرفي اړخ لري، چې د تولید او امتعې اندازه لوړولی نه شي او له امله یې بیې لوړېږي.

### د دولت د اضافي لګښتونو پراختیا او ډېروالی

د لګښتونو ډېروالی د بېلابېلو دلایلو له مخې صورت موندلی شي لکه: د پروګرامونو پراختیا، اقتصادي پراختیا، د دولتي موسسو او سازمانونو پراختیا، د ښوونیزو، روغتیایي او نورو لګښتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتوالی. د لګښتونو زياتوالی چې د بوديجې د کسر لارې پرانستل کيږي، د مجموعي تقاضا د زياتوالي لامل کېږي او په ټولنه کې انفلاسيون رامنځ ته کوي.

په يوه ټولنه کې شديد تورم ورځ په ورځ د دولت د لګښتونو د ډېروالي لامل ګرځي، ځکه دولت اړ کېږي، چې د انفلاسيون په حالت کې د خپلې اړتيا وړ عين توکي او خدمتونه په ډېرو پيسو سره تهيه او پيدا کړي. د دولت د اضافي لګښتونو په ډېروالي سره اقتصاد پر دې نه توانېږي، چې د دولت د دې مصرفي تقاضا د لوړوالي مطابق توليدات لوړ کړي، له دې امله بيې لوړېږي او دا حالت په افغانستان کې وليدل شو.

د بېلګې په توګه د دولت د لګښتونو له جملې نه تر ټولو زيات تورمي اغيزې د دولت نظامي لګښتونه لري، ځکه دا ډول لګښتونه له اقتصادي پلوه کاملاً غيرمولد لګښتونه دي او ظرفيتي اغېزې نه لري. همداشان د پولي تورم د تقويې  بل لامل دادی، چې د دولت د لګښتونو په ترکيب کې بدلونونه رامنځ ته کېږي، په دې مانا چې له مجموعي لګښتونو څخه د دولت د عادي لګښتونو سهم له يوه کال نه بل کال ته ډېروالي مومي او برعکس د انکشافي لګښتونو سهم کال په کال کمېږي او د دولت عادي لګښتونه په لومړي قدم کې يوازې عايداتي اغېزې لري او انکشافي لګښتونه څه ناڅه ظرفيتي اغېزې لري. نو په دې توګه د عادي لګښتونو تورمي اغېزې نظر انکشافي لګښتونو ته ډېرې وي، چې دا بېلګه په افغانستان او مخ پر وده هېوادونو کې ښه ليدل کېږي.

**د لګښتونو ډېروالی:**

په يوه ټولنه کې د لګښتونو زياتوالی په اقتصاد کې د مجموعي تقاضا د ډېروالي لامل ګرځي او په لاندې ډول دي:

**لومړی:** په پراخه اندازه او د توليداتو د زياتوالي تر اندازې ډېر د مزد، معاشونو او نورو عوايدو لوړېدل، چې په دې حالت کې يانې که د اضافي عايداتو په لوړوالي سره اضافي توليدات شتون ونه لري، چې ډېری په مخ پر وده هېوادونو کې ليدل کېږي.

**دويم:** د پاتې شويو پولي وسايلو کارونه، چې د پخوانيو کلونو د پرځای پاتې غوښتنو له مدرکه شتون ولري.

**دريم:** په مصرفي برخو کې د پخوانيو سپماوو کارونه يا ترې ګټه اخيستل.

**څلورم:** کله چې بهرنۍ پانګې د بلاعوضه مرستو يا پور په ډول هېواد ته راشي په دوارو صورتونو کې د واردو شويو اسعارو په اندازه پيسې هېواد ته راځي او په اقتصادي جريان کې شاملېږي، چې له امله يې بيې لوړېږي او دې ډول تورم ته وارد شوی تورم هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تولید د ټمام شوي قېمت لوړېدل:**

**لاندې لاملونه د ټمام شوي قېمت د لوړېدو لامل ګرځي:**

**لومړی:** په پرمختللو صنعتي هېوادونو کې د کار د څښتنانو پر وړاندې د مزدونو لوړېدل او کارګرو ټولنو استحکام د دې لامل کېږي، چې د کار څښتنان د اقتصادي بحران او رکود په حالتونو کې د کارګرانو پر وړاندې نه شي کولی هغوي معزول کړي یا د هغوی د معاشونو د کموالي لامل شي. په دې ترتیب له یوې خوا د تولیداتو د کموالي نسبت او له بله پلوه د مزدونو د لوړوالي په واسطه د پولي تورم په حالت کې د تولیداتو ټمام شوی قېمت لوړېږي، ځکه چې مزدونه په دې ډول هېوادونو کې د تولید د ټمام شوي لګښت عمده برخه جوړوي او احصایوي ارقام ښیي، چې په صنعتي هېوادونو کې د کار یا مزد لګښتونه او معاشونه شاوخوا ٪۷۰ ټمام شوي لګښتونه تشکیلوي.

**دویم:** د پانګې د ربحې د نرخ لوړېدل:

معمولاً د پانګونې له لویو لګښتونو څخه یو هم د ربحې لګښتونه دي. همداشان هغه وجوه چې د یوې پروژې د جوړولو لپاره اړین دي، په عمومي ډول قرض کېږي او د یوې دورې په جریان کې ورکول کېږي، چې د پروژې واقعي لګښتونه د ربحې په نرخ پورې اړوند وي.

کله چې د ربحې نرخ لوړوالی مومي، د پور لګښت لوړېږي او که د ربحې نرخ ټیټوالی ومومي، د پور لګښتونه ټیټېږي او پانګونه ډېره پرکار لوېږي. له بله پلوه د تورم په حالت کې پور ورکوونکي هم تورم په خپلو قرضوي معاملاتو کې په پام کې نیسي او هغه وخت پور ورکولو ته حاضرېږي، چې لوړه ربحه ورته ورکړل شي. د دې لوړې ربحې ورکول د تولیداتو ټمام شوی لګښت لوړوي او په پایله کې د نهایي محصولاتو بیې لوړېږي.

**دریم:** د اومو توکو د بیو لوړوالی:

د تورم په حالت کې د اومو توکو بیې لوړېږي او د تولیداتو ټمام شوی قېمت د کار ټمامه محصولاتو د زیاتوالي لامل ګرځي.

**د ساینس او ټېکنالوژۍ پرمختګ:**

په بډایو هېوادونو کې چې صنعت او ټېکنالوژۍ په کې پرمختګ کړی، خوراکي توکو ته تقاضا په کې زیاته وي. بډای او پرمختللي هېوادونه د انرژۍ د تولید لپاره له خوراکي توکو ګټه اخلي او پر همدې بنسټ د غوره توکو او څیزونو د تولید لامل ګرځي او دې پرمختګ په خپل وار سره د نویو غوښتنو لارې چارې برابرې کړې او په پایله کې یې بیې لوړې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نفوس ډېرښت او د مصرفي عادتونو تغیر:**

د بیو د لوړوالي اصل لامل د نړۍ د نفوسو ډېرښت دی، یانې دا ډېرښت د مصرفي توکو لپاره د تقاضا د ډېروالي لامل ګرځي او مجموعي تقاضا ورسره لوړېږي او په پایله کې یې بیې هم پورته خېژي. په داسې حال کې چې د روانې پېړۍ ترنیمایي پورې به د نړۍ نفوس نهه میلیاردو تنو ته ورسېږي. همداشان د نفوسو د مصرفي عادتونو بدلونونه او د موډ تغیر د مجموعي تقاضا د ډېروالي سبب ګرځي او له امله یې بیې هم پورته خېژي.

**د پانګونو پراختیا**

د پانګونې بنسټیز بدلونونه کولی شي پر عمومي تقاضا عمده اغېزې ولري. دا بدلونونه پر خپل ځای او په لنډمهاله توګه پر تولید او استخدام اغېزې کوي او په اوږدمهاله توګه د اقتصادي ودې لامل ګرځي. خو تر مطلوب حد د پانګونې زیاته پراختیا، هغه که په دولتي برخه کې وي، که په خصوصي برخه کې، په هغه صورت کې چې عایداتي اغېزې یې نظر ظرفیتي اغېزو ته ډېرې وي، د بیو د لوړوالي لامل ګرځي، چې په اقتصادي بنسټونو کې دولتي پانګونې تر ډېره بریده دا خاصیت لري، چې په یوه مخ پر وده هېواد کې د پولي تورم له مهمو لاملونو څخه وګڼل شي.

**د مجموعي عرضې کموالی:**

کېږي لوري ته د عرضې د منحنې تغییر کولی شي د لګښتونو د ډېروالي له امله ( د بېلګې په توګه د مزدونو په نرخ یا ( انرژۍ ) قېمت کې ډېروالی طبیعي اقتصادي افتونه راوړي، یانې په اقتصاد کې د مجموعي عرضې کموالی، په هغه صورت کې چې مجموعي تقاضا په هماغه اندازه کمه شوې نه وي، د پولي تورم د منځ ته راتلو لامل ګرځي او د عرضې په منحنې کې تغیرات، چې د لګښتونو د تغیراتو له امله منځ ته راځي، د ( Cost Shock) په نامه یادېږي.

**د تولیدي دستګاوو د پرتلیز قابلیت نشتوالی:**

که چېرې اقتصادي تولیدي دستګاوې د هر وخت له اقتصادي غوښتنو سره سمون یا مطابقت ونه شي لرلای، یانې اقتصادي غوښتنې پوره نه شي کړای، په دې صورت کې بیې لوړېږي، چې دا ډول تورم د اقتصادي جوړښت د کمزورتیا زېږنده ده. په ټولو مخ پر وده هېوادونو کې په ځانګړې توګه په افغانستان کې همدا د اقتصادي جوړښت یا ساختمان کمزورتیا ده، چې د له منځه وړلو لپاره یې اوږدمهاله تدبیرونه نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د وارداتو کموالی:**

د وارداتو کمښت په اقتصاد کې د مجموعي عرضې د کموالي لامل گرځي، چې د پولي تورم له لاملونه څخه گڼل کېږي. د بېلگې په توگه په مخ پر وده هېوادونو کي او هغو هېوادونو کې چې په جگړو کې ښکېل دي، سوداگر د سوداگریزو فعالیتونو او د پانگې د خوندیتوب په اړوند د باور او ډاډ د نشتوالي له امله خپلې پانگې بهرنیو هېوادونو ته لېږدوي، چې د وارداتو د کموالي لامل کېږي او په ټولنه کې پولي تورم پراختیا او پیاوړتیا مومي.

**کورنۍ جگړې د تورم د علتونو په توگه:**

د تورم مهم لامل په ټولنه کې کورنۍ جگړې دي، چې له امله يې په ټولو برخو کې مجموعي عرضه کمېږي. د بېلگې په ډول: د دوو نیمو لسیزو د جگړو په ترڅ کې د افغانستان په ټولو برخو لکه، په کرنه، صنعت، سوداگرۍ، مناقلاتو، کانونو، برېښنا او نورو اقتصادي برخو کې کموالی منځ ته راغلی دی.

**د تورم نااقتصادي علتونه:**

**د تورم عارضي علتونه:** هغه علتونه چې په غېرمترقبه او نا اټکل شوي ډول د بیو د لوړوالي لامل گرځي، لکه د اقتصادي ناورینونو رامنځ ته کېدل، د جگړو ډېرېدل، وچکالۍ، قحطۍ، زلزلې، سېلاوونه، ناروغۍ او نور، چې په دې ټولو حالتونو کې اقتصادي مجموعي عرضه یو دم کمېږي او د بیو د لوړوالي لامل گرځي.

**سیاسي عامل**

د اقتصادي حالت او د بیو د ثبات لپاره د یوه قوي مرکزي او ولسواك دولت شتون اړین دی، خو په افغانستان کې په تېرو دریو لسیزو جگړه ییز حالت کې اقتصادي حالت استقرار نه درلود او پولي تورم منځ ته راغلی وو.

**رواني عامل**

د اقتصادي استقرار یا نه استقرار په ځانگړې توگه د بیو د سیاست د راتلونکي اقتصادي حالت په اړه د خلکو د فکر ډول او قضاوت یو بل لامل دی. کله چې اقتصادي لاملونه په راتلونکي کې د پیسو د ارزښت په اړه بدبینانه نظر ولري، تر حد زیاتې پېرودنې کوي، چې په مارکېټ کې د عمومي عرضې د کموالي لامل گرځي او د بیو د لوړېدو شونتیا پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پر اقتصاد باندې د پولي تورم اغېزې:**

د عمومي نظرسنجۍ له مخې، خلك تورم د هېواد لومړنی دښمن بولي، چې پر اقتصاد باندې سختې ناوړې اقتصادي او ټولنيزې اغېزې اچوي او هم تورم د شخړو او د خطر د اعلام لامل بولي.

۱ – په هغو هېوادونو کې چې تورم شتون ولري، هغه کسان چې د ثابت عايد لرونکي وي او په دولتي سکتور کې فعاليت کوي، زيانمنېږي.

۲ – همداشان د تورم له امله د عايداتو او لاسته راوړنو حقيقي ارزښت ټيټېږي او د پېرودنې د قدرت د کموالي لامل گرځي او د خلکو د ژوند سطحه ټيټېږي. د تورم اغېزې په مخ پر ودې هېوادونو باندې نظر پر مختللو هېوادونو ته زياتې قوې او مضرې وي او له بله پلوه د دې ډول هېوادونو ډېری وگړي په داسې عايداتي سطحه کې ځای لري، چې په ډېرې سختۍ سره کولی شي لږترلږه د خپل فزيکي ژوندانه سويه تامين کړي.

۳ – انفلاسيون يا تورم د سپما د کموالي لامل کېږي، ځکه د پيسو ارزښت د بدلون په حال کې وي او په پايله کې سپما خپل ډاډ او باور له لاسه ورکوي.

۴ – پولي تورم په نړيواله سوداگرۍ کې د توکو او اجناسو د بيو د لوړوالي لامل گرځي، چې په پايله کې يې صادرات کم او واردات زياتېږي.

۵ – پر اقتصاد باندې د تورم بله اغېزه د خدمتونو او توکو د توليد کموالی دی. که چېرې اقتصاد له ټولو بيو او مقاديرو لکه، ملي عايد، د پيسو حجم او نورو له تورم سره مخ نه وي، په دې صورت کې احتمالاً په اقتصاد کې واقعي توليد د معاملاتي لگښتونو د ډېروالي مخه نيولی شي.

۶ – په ټولنه کې تورم، هغه اوږدمهاله قراردادونه چې په راتلونکي کې تړل کېږي ناشوني او محدودوي. ځکه اوږدمهاله تورم د پيسو د ارزښت د ټيټوالي لامل گرځي او په دې کار سره د دواړو اړخونو يو لوری زيانمنېږي. همداشان پولي تورم پور ورکوونکي هم زيانمنوي او په هماغه اندازه پوروړي گټه ترلاسه کوي.

۷ – د لاسته راوړنو په توزيع کې او همداشان د اقتصاد په اغېزمنتوب باندې ناوړې اغېزې اچوي، ځکه د بيو نښانې گډوډوي. هغه اقتصاد چې ټيټ تورم لري، که چېرې د يوه توکي بيه په بازار کې پورته شي هم پېرودونکي او هم پلورونکي پوهېږي، چې د ياد توکي د عرضې او تقاضا په شرايطو کې بدلون رامنځ ته شوی او په نتيجه کې کولی شي غبرگون وښيي. همداشان د لاسته راوړنې يا حاصل، ثروت د دويم ځلي توزيع له لارې تورم او د کارنده توب کمښت هم اقتصاد ته ضربه رسوي او تورم د مالياتو د بيو او د ربحې د حقيقي نرخونو د نسبي گډوډۍ لامل گرځي.

۸ – د تادياتو پر بيلانس باندې د تورم اغېزې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تورم په مخنیوي کې د مرکزي بانك رول:**

مرکزي بانك په هر هېواد کې اقتصادي عامل ګڼل کېږي. د پولي تورم مخنیوی نظر د هر هېواد حالاتو، اوضاع او د تورم ډول ته توپیر لري، چې په عمومي ډول په مخ پر وده هېوادونو کې په لنډه توګه د هغه ځینې عمده ټکي په لاندې ډول وړاندې کېږي.

- د پیسو د حجم د ډېروالي مخنیوی، د تورم نرخ مهارولی شي، چې دولتونه باید د انقباضي بودیجې لایحې ته ژمن وي. دولت او مرکزي بانك باید هغه معاملې چې په اسعارو په ځانګړې توګه په ډالرو ترسره کېږي، ودروي او د هر ډول پولي حجم د زیاتوالي مخنیوی وکړي او انقباضي سیاست غوره کړي. بله مهمه موضوع د اقتصاد مستقل کول دي، چې په هېواد کې باید دا شرایط برابر شي او په دې کار سره د خصوصي سکتور له لارې تولید ته وده ورکړل شي او په دې سره ( د عرضې او تولید ډېروالي ) د بیو د لوړېدو مخه نیول کېږي او ورو ورو ښېرته ټیټېږي.

په هېوادونو کې د تورم بل ځانګړي دلیل د جاري لګښتونو لپاره له اسعاري حساب څخه د دولت د اخیستنې میزان دی، چې له سل فیصده څخه یې ډېروالی موندلی وي، چې د اخیستنې دا میزان پر پولي بنسټ او نقدي ودې او په نهایت کې د تورم پر نرخ باندې بدلیږي، چې د سبسایډیو په زیاتوالي او د بې ځایه غوښتنو په رامنځ ته کېدو سره د تقاضا سطحه لوړېږي، یانې د تعرفو د نرخ د ټیټوالي او یا د ارزان بیو وارداتو له لارې د کورني تورم نرخ کنټرول شي او پانګونو او تولید ته ډېروالی ورکړل شي. همداشان د مشارکت یا سرمایوي پاڼو انتشار او د تولید د لاملونو د بیو د لوړوالي مخنیوی، د ثبات رامنځ ته کول، د بازار ارامتیا، په خلکو کې د ډاډ رامنځ ته کول، په تصمیمونو کې روڼتیا او له ژر ژر بدلونونو څخه ځان ساتل، د تورم په مخنیوي کې غوره رول لري.

**د افغانستان د مرکزي بانك په وسیله د پولي تورم کنټرول**

د افغانستان بانك له ۲۰۰۳ زېږدیز کال را په دې خوا د افغانستان بانك د نوي قانون مطابق د مرکزي بانك موډرن فعالیتونه تجربه کړي او په دې برخه کې یې د پام وړ بریاوې ترلاسه کړې دي، چې د نمونې په ډول کولی شو د افغانستان د ټولنې د عیني شرایطو مطابق د مناسبې او معقولې طرحې د تطبیق او پولي سیاستونو د ارزونې یادونه وکړو، چې د پولي تورم نرخ یې د نړیوالو منل شویو کړنلارو او مېتودونو له مخې سنجولی دی.

د پولي تورم په نرخ کې  بدلونونه په کلنۍ او ربعوار ډول، د پولي تورم د نرخ اوسط او اساسي انفلاسیونه محاسبه او سنجول کېږي.


سره له دې چې افغانستان یو وارداتي هېواد دی، یا په بله وینا د هېواد تر سرحدونو اخوا تولیدي توکو ته د افغانستان تقاضا ډېره ده، چې دا چاره د عمومي پولي تورم، چې داخلي پولي تورم او هم وارداتي پولي تورم رانغاړي، د مرکزي بانك د پام وړ لاس ته راوړنو څخه ګڼل کېدای شي.

په ۱ شکل کې له ۱۳۸۳ تر ۱۳۸۶ کال پورې د تورم په نرخ کې بدلونونه ښودل شوي دي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې په شکل کې لیدل کېږي د تورم منحني د ۱۳۸۳ کال له لومړیو څخه د ۱۳۸۶ کال تر لومړیو پورې په حداقل یانې یو رقمي عدد ۸/۱ سطحې ته رسېدلی، چې پخپله د پولي سیاست بریا په ګوته کوي. په دې شکل کې لیدل کېږي چې انفلاسیون یو ځل بیا خپل صعودي سیر غوره کړی. د ۱۳۸۶ له لومړیو د ۱۳۸۷ کال د غویي تر میاشتې د انفلاسیون نرخ اعظمي حد ته ۲/۴۲ ته رسېدلی چې دا دېروالی عمدتاً په نړیواله کچه د بیو د بدلون له امله دی.

نفتي او خوراکي توکي د هغو توکو له جملې څخه دي، چې بیې په نړیواله کچه په بې ساري ډول لوړې شوې وي، چې اغېزې یې نه یوازې پر افغانستان بلکې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې لیدل کېږي. په ۲ شکل کې د یادو اغېزو رول د سیمې په هېوادونو لکه پاکستان، ایران، هندوستان، چې افغانستان ته له لویو صادروونکو هېوادونو څخه  دی، لیدل کېږی.




د ښار د مصرفوونکو د بیو د شاخص له مخې د تورم د نرخ د بدلونونو بهیر – ۱ شکل




د ګاونډیو هېوادونو د پولي تورم په نرخ کې د بدلونونو بهیر – ۲ شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شکل له پرتلنې ځرګندېږي، چې په افغانستان کې د پیسو نرخ نظر پاکستان او ایران ته په ښه وضعیت کې قرار لري.

**سرچینې:** د پاکستان، ایران او هندوستان مرکزي بانکونه

د افغانستان بانك د معقولو پولي سیاستو په کارولو سره پر دې توانېدلی، چې د وارداتي انفلاسیون پر وړاندې یو قوي دفاعي دېوال رامنځ ته کړي او د امکان تر بریده یې د هېواد په اقتصادي ساحه کې د صادروونکو هېوادنو د تورم د نفوذ مخه نیولې ده، چې دا دفاعي دېوال د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د ثبات تامین دی.

## د دریم څپرکي د مطلبونو لنډیز

په دې څپرکي کې د بودیجې د کسر سیاست او د دولت له خوا د دغه سیاست مهمې موخې وڅېړل شوې، چې د اضافي نوټونو د نشر په واسطه د بودیجې د کسر تمویل ښېګنې او نیمګړتیاوې درلودې. همداشان د اعتبارونو د زیاتوالي او هغه رول چې بانکونه د توسعوي سیاست په تعقیب او برعکس یې یانې د  بانکونو د زېرمو ډېروالی او کموالی، چې په دواړو حالاتو کې د اعتبارورکولو ظرفیت لوړوي، د پیسو حجم ډېرولی شي.

د تادیاتو بیلانس، د تادیاتو د بیلانس رول چې د اقتصادي پالیسیو په غوره کولو او د تادیاتو د بیلانس د کسر، چې پر اقتصاد منفي اغېزې اچوي، تر بحث او تجزیې لاندې ونیول شول.

د دې څپرکي په جریان کې د اوسني عصر مهمه اقتصادي معضله یانې پولي تورم تر بحث لاندې ونیول شو، چې په سر کې د اقتصادي کارپوهانو او نورو وګړو نظرونه، مساعد اقتصادي اثرات او د هغو نامطلوبې اقتصادي او ټولنیزې پایلې، د پولي تورم بېلابېل لاملونه، لکه د مصرف زیاتوالی، د پیسو اندازه، بانکي کریډېټونه، د پانګونې پراختیا، نظر عمومي عرضې ته د عمومي تقاضا زیاتوالی او برعکس د وارداتو کموالی، اقتصادي لاملونه او نور تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شول.

بلاخره د دې څپرکي په پای کې د ټولنې پر اقتصاد د پولي تورم اغېزې، د سپما د کموالي اسباب، صادرات، د توکو او خدمتونو تولید او د وارداتو ډېروالی او په ځانګړې توګه مداوم تورم، چې د پولي ارزښت د کمېدو لامل کېږي، تر څېړنې او بحث لاندې ونیول شول. همداشان د تورم په کنټرول او مخنیوي کې د مرکزي بانك رول او د هغه مهم ټکي، په مخ پروده هېوادونو او په ځانګړې توګه په افغانستان کې وڅېړل شول. د افغانستان بانك د پولي سیاست عمومي مدیریت د پولي تورم نرخ د منلو شویو نړیوالو مېتودونو په کارولو سره د پولي تورم د نرخ بدلونونه په کلني او ربعوار ډول د پولي تورم د نرخ اوسط محاسبه او سنجول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دريم څپرکي پوښتنې**

۱ – په کورنيو او بهرنيو بازارونو کې د پانګوالو د سيالۍ او رقابت د قدرت د کمزورتيا لامل په څه شي کې دی؟

۲ – د بوديجې د کسر سياست يې په څه نامه ياد کړی او دولت په دې برخه کې څه رول ترسره کوي؟

۳ – کله چې د دولت د بوديجې کسر د خصوصي سکتور له خوا تمويل شي، کوم حالت رانغاړي، توضېح يې کړئ؟

۴ – د کوم سياست او کړنلارو ځارل په بانکونو کې د اعتبار ورکولو د ظرفيت د لوړوالي لامل کېږي؟

۵ – څو عوامل د پيسو د دوران د چټکتيا لامل ګرځي؟

۶ – د تادياتو بيلانس له اقتصادي پلوه تعريف کړئ؟

۷ – د ننني انفلاسيون دقيق او جامع تعريف له څه قراره دی او په دې تعريف کې مهم ټکی څه دی؟

۸ – انفلاسيون د يوه اقتصاد پوه له ليدلوري څه ته وايي؟

۹ – په اقتصاد کې د پيسو د مقدار د زياتوالي اغېزې شرحه کړئ؟

۱۰ – د پيسو له عرضې څخه د زېږنده انفلاسيون لپاره د علماوو توجيه چې د پول کلاسيکونو مقداري نظريې ته په پام سره يې تحليل کړې، بيان کړئ؟

۱۲ – د اسعارو د تبادلې د نرخونو لوړېدل يا ټيټېدل په يوه هېواد کې څه ډول بدلونونه منځ ته راوړي.

۱۳ – د هغو مهمو عواملو  واخلئ، چې د بيو په لوړوالي کې ستر رول لري؟

۱۴ – هغه بېلابېل دلايل چې د دولت لګښتونه لوړوي کوم دي؟

۱۵ – پولي تورم د يوه هېواد پر اقتصاد څه ډول اغېزې کوي، واضيح يې کړئ؟

۱۶ – د Cost shock اصطلاح د څه له امله منځ ته راځي؟

۱۷ – هغه مهم ټکي چې په مخ پر وده هېوادونو کې د تورم په کنټرول او مخنيوي کې رول لري کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ – د افغانستان بانك د پولي تورم نرخ څه ډول محاسبه او سنجوي؟

۱۹ – دوه هغه مهم توکي، چې په دې وروستيو کې يې د هېواد پر اقتصاد او په ځانګړې توګه پر نړيوال اقتصاد منفي اغېزې کړي، کوم دي، نومونه يې واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیسو د ارزښت استقرار

**ټولیزه موخه:**
د پیسو د ارزښت یا ثبات د استقرار توضیح او د ټولنې په اقتصاد کې یې اهمیت، د بیو په استقرار کې د پولي سیاست اغېزې، د بیو مطلوبه سطحه، د بیو د لوړوالي لاملونه

**د زده کړې موخې:** لوستوال به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته لاندې موضوعګانې تعریف او تشریح کړای شي:

- د پیسو د ارزښت ثبات یا استقرار.
- د پیسو داخلي ارزښت.
- د بیسو بهرنی ارزښت.
- د بیو مطلوبه سطحه.
- پولي سیاست او پر بیو یې اغېزې.
- د بیو د لوړېدو لاملونه او د بیو د لوړېدو پولي لاملونه.

پیسې هغه وخت ارزښت لري، چې وکولی شو پر هغو یو څیز واخلو. د پیسو د ارزښت او دهغو مالونو د اندازو ترمنځ چې پر هغو باندې اخیستل کېږي، مستقیمه اړیکه موجوده ده، خو د پیسو د ارزښت او د ورکړل شویو پیسو د اندازې د ګرځیدو ترمنځ معکوسه رابطه شتون لري. په اقتصاد کې د پیسو ارزښت کولی شي، پر اقتصادي بهیر هم ښې اغېزې وکړي او د هغو نوساناتو مخه ونیسي، چې پر سوداګرۍ او پانګونه او په عمومي توګه پر اقتصادي منفي اغېزې غورځوي، دا چې د پیسو د ارزښت تثبیت او د کارونې طرز یې د پولي سیاستونو له ځرګندو مسایلو څخه دي، نو د پیسو ارزښت یې له دوو اړخونو څېړلی دی. یو بهرنی ارزښت دی او بل کورنی ارزښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ - د پیسو کورنۍ ارزښت:**

د پیسو کورنۍ ارزښت چې په یوه هېواد کې د تولید د قدرت زېږنده ده یا په واقعیت کې د هېواد په دننه کې د پیسو د اخیستلو قدرت دی، چې د بیو د سطحې له لوړېدو سره کموالی مومي.

په کورني ارزښت کې دوه عامله مطالعه کېږي، چې یو د پیسو عمومي اندازه او بل د توکو عمومي اندازه ده. د پیسو په کورني تثبیت کې یوازې د پیسو عمومي اندازه بسنه نه شي کولی.

د عرضه شویو پیسو د اندازې او عرضه شویو توکو ترمنځ تناسب معکوساً متناسب دی، یانې په هغه صورت کې چې د پیسو ارزښت ډېروالی ومومي، بیې نزولي حالت غوره کوي او په هغه صورت کې چې د پیسو ارزښت نزولي حالت غوره کړي بیې لوړېږي. که د پیسو عمومي اندازه په M او د پیسو د دوران چټکتیا په V، د بیو سطحه په P د توکو اندازه په Tسره وښیو، (M.V=P.T ). له بله طرفه M=P.T دی، که د بیو د کچې فورمول ومومو: P=M/T.

**د پیسو بهرنی ارزښت**

د پیسو د کورني ارزښت انعکاس دی او مستقیما د تادیاتو د بیلانس له تعادل سره اړه لري. په دې ارزښت کې پشتوانه په پام کې نیول کېږي او هره پیسه له څانه طلایي تعریف لري، چې د پولي سیاست په اصطلاح کې د رسمي ارزښت ( د اخیستلو د قدرت پرته په پام کې نیول کېږي) په نامه یادېږي.

د پیسو رسمي ارزښت له هغه مقدار سروزرو څخه عبارت دی، چې هر هېواد یې د خپل اقتصادي سیاست او توان له مخې په نړیوال وجهي صندوق ( I.M.F) ثبت کړي وي.

د پیسو حقیقي ارزښت د پیسو د اخیستلو د قدرت په پام کې نیولو سره سنجول کېږي. د نړیوال وجهي صندوق هر غړی هېواد د قانون له مخې د خپلو پیسو له واحد سره د سرو زرو مساوي وزن ټاکي.

د پیسو طلایي تعریف عبارت له هغه مقدار سرو زرو څخه دی، چې په نړیوال وجهي صندوق کې ثبت شوې وي. د دو پیسو دطلایي تعریف پر وراندې کولی شو د یوې پیسې ارزښت د دویمې په مقابل کې لاسته راوړو.

لکه څنګه چې ډالر د (۰،۱۸۸۸۶۷۱) ګرام طلایي تعریف لرونکی دی او افغانۍ د (۰،۰۰۰۲۲۲) ګرام طلا لرونکی دی.

د تادیاتو بیلانس د پیسو په بهرني ارزښت کې خپلې اغېزې لري. که بیلانس مثبته بڼه غوره کړي، په دې مانا چې ډېره طلا او اسعار هېواد ته راوړل شوي چې د هغو په وسیله د پیسو کورنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت تقویه او د پانګونې شرایط برابرېږي. پولي سیاستوالي باید د فرعي وسیلو په توګه د پیسو د ارزښت په ټاکلو کې اقتصادي، ټولنیز حرکت او سیاسي او نظامي اوضاع اغېزناکه وبولي. که څه هم صعودي یا نزولي حرکتونه کولی شي د توکو او پیسو په عمومي مقدار کې د بدلونونو په رامنځ ته کولو او هغه هم یو د بل په مقابل کې د هغو په قرار ورکولو سره د پیسو ارزښت متغیر کړي، خو په ډېرو مواردو کې ممکن په دې مقدارونو ( پیسو او توکو ) کې د پام وړ کوم بدلون رانه شي.

خو پورتنۍ یاده شوې اوضاع کولی شي د پیسو په ارزښت کې جدي بدلونونه را منځ ته کړي. په مخ پر وده هېوادونو کې سیاسي او ټولنیز بدلونونه کولی شي په لوړه سطحه د پیسو د ارزښت د نه استقرار په برخه جدي بدلونونه رامنځ ته کړي، چې دا عوامل د پیسو په بهرني ارزښت کې په پام کې نیول کېږي، له هغه پرته ورکړل شوي سیاستونه به غیرواقعي وي.

ټول هېوادونه د پیسو د ارزښت د ټیټوالي د مخنیوي لپاره یوه اغېزناکه وسیله کاروي، چې هغه پولي ریفورم دی او په افغانستان کې هم له همدې وسیلې کار اخیستل کېږي.

**د بیو مطلوبه سطحه:**

په ملي اقتصاد کې یوه مهمه مسئله د بیو د عمومي سطحې ټاکل دي او په دې برخه کې انفلاسیون د اقتصاد پوهانو او سیاستوالو د اندېښنې مهم ټکی ګڼل کېږي. پر هغو لاملونو پوهېدنه چې د بیو سطحه اغېزمنوي، د ملي اقتصاد د پوهېدو لپاره اړینه ده. البته د بیو سطحه د پیسو د عرضې او تقاضا په وسیله ټاکل کېږي، چې د مبادلې له معادلې څخه ګټه اخیستنه او د هغه د فیشر رابطه کولی شو په اسانۍ سره وښیو. mv=py.

که دا په پام کې ونیسو چې y ثابت او د استخدام په سطحه بشپړ دی، په دې صورت کې p د m مقدار ( د پیسو عرضه ) په وسیله او v ( هغه عامل چې پیسو ته تقاضا ښیي ) ټاکل کېږي.

**مجموعي تقاضا:**

په اقتصاد کې د جنسونو او خدمتونو د تقاضا مجموعه ده، چې ډېری وخت له AD مخففو تورو سره د مبادلې معادلې پر بنسټ ټاکل کېږي.

نوي اقتصاد پوهان پر دې آند دي، چې د بیو د سطحې او کلاسیك تورم ټاکل ډېر ساده دي، نو باید د بیو د سطحې تیوري د مجموعي عرضې او تقاضا له لارې، چې نژدې په پراخه توګه منل شوې، ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مجموعي عرضه:**

د توکو او خدمتونو د عمومي مقدار په مانا ده، چې د یوه هېواد سوداګریز مرکزونه يې په یوه معلومه موده کې تولیدوي او خرڅوي يې او د AS په مخففو تورو سره ښودل کېږي او د بیې له سطحې سره تړاو لري. نو د پولي سیاستوال لپاره هره بیه چې وکولی شي په معقول ډول يې پولي موخه برابره کړي، مطلوبه بیه ګڼل کېږي. لوړې بیې هم په ځینو برخو کې د مستهلکینو له نظره ناوړه او بدې وي، خو د پولي اقتصادي سیاستوال لپاره په یوه ټاکلې زمانه کې مطلوبې او په زړه پورې ګڼل کېږي. برعکس د بیو ټیټوالی د یو شمېر وګړو لپاره په زړه پورې او غوره وي او د پولي سیاستوال لپاره اقتصادي معقولیت دی، چې نظر حالاتو او شرایطو ته منځ ته راځي. له بله پلوه په اقتصاد کې لوړې بیې مولد او تولیدوونکي او ټیټې بیې مستهلك څېړي، چې پولي سیاستوال بیو ته د لوري د ورکولو د کړنلارې په کارولو سره یو له دغو یا دواړه سره ترکیب او ګډوي، چې دا انتخاب په بشپړه توګه په اقتصادي حالت پورې تړلی دی.

دا چې د پولي سیاستوال لپاره هم د مولد طبقه  او هم مستهلك مهم دي، نو له دې امله باید خلك د طبقه بندۍ له کټګوریو خبر شي، چې په یوه سیاست کې له پولي سیاستوال څخه موخه په ځانګړې توګه کومې کټګورۍ د خلکو دي او د خلکو کومې کټګورۍ د سیاست د عامل او تطبیقوونکي په توګه بولي، چې دا یو جدي اصل دی او باید پاملرنه ورته وشي.

**پولي سیاست او پر بیو باندې يې اغېزې**

د بیو نوسانات په ظاهري توګه د بیو د لوړېدو او ټیټېدو چاره ده، چې په ډېری ننیو اقتصادي تحلیلونو کې د بیو د لوړېدو دنوساناتو په اړه بحث کېږي.

په ډېری تیوري ګانو کې اقتصادپوهان د بیو لوړېدل له ۲-۳٪ پورې مجاز بولي او هغه اقتصادي پراختیا بولي. خو په دې وروستیو کې په ځانګړې توګه د شلمې پېړۍ په پای او د یوویشتمې په لومړیو کې تیوري بشپړه شوې ده، ځینې پوهان په دې اند دي چې د بیو لوړېدل نه یوازې د اقتصادي رکود لامل نه ګرځي، بلکې د اقتصادي ودې او پرمختګ زمینه برابروي.

فریډمن په دې اړه وايي، د بیو د لوړېدو په صورت کې پانګوال د ډېرې ګټې د ترلاسه کولو لپاره او د بیو له لوړوالي څخه د ډېرې ګټې اخیستنې لپاره ډېرې پانګونې ته مخه کوي، چې د تولید د ډېروالي لامل کېږي، او استخدام ته لار پرانیزي او د استخدام د ډېروالي له امله عواید لوړ ځي، چې د عوایدو په لوړېدو سره تقاضا او پانګونه ډېروي او بلاخره د اقتصادي ودې او پراختیا لامل ګرځي.

باید وویل شي چې د بیو لوړېدل د لګام په بڼه پاشلی مطلب نه دي، بلکې په مطلوبه اندازه د بیو لوړېدل مقصد دی، له دې پرته يې پایله برعکس ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې کسان د دې عقيدې مخالف دي او داسې نظر ښکاره کوي، چې د بيو د لوړېدو په صورت کې د بيو جدي شکل د توليد عوامل لوړوي او پانګوال اړ کېږي چې د بيو د لوړېدو په صورت کې يوه اندازه خپلې ګټې له لاسه ورکړي يا د خپل توليد بيه لوړه کړي، چې له امله يې د هېواد پر ملي اقتصاد ناوړه اغېزې پرېوځي. د بيو د لوړېدو يا ټيټېدو د مخنيوي او د هغو د وروستيو ناوړه اغېزو د کنټرول په موخه دولتونه جدي تدبيرونه او اقدامات غوره کوي. د بيو نوسانات په مخ پر وده هېوادونو کې نظر پرمختللو هېوادونو ته زيات ليدل کېږي، ځکه د پانګې د کمښت په صورت کې د بيو لوړېدل ناوړې پايلې له ځانه سره لري.

**د بيو د لوړوالي لاملونه:**

په دې بحث کې له اوږدو خبرو تېرېږو او د اصلي لاملونو په اړه لنډ بحث کوو. د بيو د لوړېدو اصلي لامل د نړۍ د نفوسو او ټولنو زياتوالی دی، چې د خاورو، نفتو او غذايي توکو پر سرچينو يې زيات فشار راوړی دی. بل لامل چې د بيو په لوړېدو کې رول لري او هغه ته اقتصادي معجزه وايي، چې په يو شمېر هېوادونو لکه هند او چين کې د اقتصادي حرکت موتور دی. په ساده عبارت بډايان تر بې وزلو ډېر مصرف کوي او دا اقتصادي وده د متوسطې طبقې له مصرفوونکو څخه يوه نوې ډله جوړوي، چې غوښه او تيار شوي خواړه ډېر مصرفوي. د بيو د لوړېدو بل لامل د چاپېريالي ژوند فشار دی، چې د نړۍ پر مخ پر زياتېدو دی، همداشان د نړۍ د اوبو او هوا بدلون او ګرمېدا د بيو پر لوړوالي تاثير ښندي او همداشان د کرنيزو ځمکو له منځه تګ او کمېدل هم لويې اغېزې لري.

## د بيو د لوړوالي پولي لاملونه

**د بوديجې د کسر سياست**

د دولت د بوديجې کسر د تورم له مهمو لاملونو څخه ګڼل کېږي، چې دولت د خپلو لګښتونو د پراختيا په پايله کې د بوديجې له کسر سره مخ کېږي. په دې صورت کې دولت په دې لټه کې کېږي، چې د بوديجې کسر د اضافي نوټونو د نشر له لارې تمويل کړي يا بله داسې لار رامنځ ته کړي چې د پيسو مجموعه له بدلونونو پرته د توکو په مقدار کې زياته کړي، په دې صورت کې د پيسو د اندازې له زياتوالي سره متناسب باالقوه تقاضا ډېرېږي او بيې لوړېږي.

**د دولتي لګښتونو په ساختمان کې بدلونونه:**

په هغه صورت کې چې د دولت د لګښتونو ساختمان منفي بدلون وليد، دا لګښتونه به د توکو او توليد د رامنځته کولو په موخه نه، بلکې د عادي استهلاکي لګښتونو د اتمام په موخه وکارول شي او دا ډول کړنې د بيو د لوړوالي لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په دولتي برخه کې د استخدام ډېروالی:**

لومړنۍ موخه چې دولت یې لټوي او ډېري پر انفلاسیون بدلیږي، د لوړ استخدام موخې دي، چې د لوړ استخدام موخه باید د ثابتو بیو له سطحې سره همغږې وي او لوړ استخدام باید د خپلو انفلاسیوني سیاستونو عواقبو ته په پام سره ولټوي، له دې پرته د بالقوه تقاضا د بدلون لامل کېږي او بیې لوړې ځي. دا چې بیې د بېلابېلو لاملونو له امله لوړې ځي، نو په دې صورت کې خلك او سپموونکي د خپلو لګښتونو د پوره کولو لپاره د خپلو سپماوو له سرچینو څخه ګټه اخلي او د بالقوه متقاضیانو په توګه په بازار کې راڅرګندېږي، چې د دې کار په پایله کې بیې لوړېږي.

**د ثابتو پیرودنو په موخه استفادې:**

په اقتصادي حالتونو کې چې د پیسو درلودونکي احساس کړي، چې پولي ارزښت له ټیټېدو سره مخ دی، خپلې پیسې پر ثابتو مالونو او اسعارو باندې ورکوي، چې په دې سره ثابتو شتمنیو ته تقاضا لوړېږي او بیې پورته خېژي.

**د څلورم څپرکي د مطلبونو لنډیز:**

په دې څپرکي کې په اقتصاد کې د پیسو د رول او اهمیت په پام کې نیولو او پر وګړییز او ټولنیز ژوندانه باندې د هغو د اغېزو په اړه بحث وشو.

همداشان د پیسو د ارزښت ثبات او استقرار، د مالونو له اندازې سره یې اړیکې او د هغو د ګرځېدو چټکتیا وڅېړل شو د پیسو کورنی او بهرنی ارزښت او د پیسو او توکو د مجموعي مقدار ترمنځ تناسب او د بیو د نرخ فورمول ترلاسه او بحث پرې وشو.

وروسته په دې څپرکي کې د فریډمن نظریه چې د بیو د سطحې د لوړوالي په اړه وه او د پانګوالو، د تشویق، د تولید د زیاتوالي، استخدام او بلاخره تقاضا د زیاتوالي لامل کېده او د هغه مخالف نظرونه وڅېړل شول. همداراز په دې څپرکي کې د بیو د سطحې دټاکلو څرنګوالی د فیشر د مبادلې د معادلې په واسطه رامنځ ته شو او په دې برخه کې د نویو او کلاسیکو اقتصادپوهانو نظرونه تحلیل او تجزیه شول او همداشان د بیو مطلوبه سطحه چې د پولي سیاستوال هدف یې برابراوه او د اقتصادي حالتونو په پام کې نیولو سره مو مطلوب قېمت تحلیل کړ.

بلاخره د دې څپرکي په پای کې مو د بیو د لوړوالي لاملونه او هغه پولي لاملونه چې په اقتصاد کې مهمه موضوع ګڼل کېږي او په ټولنه کې انفلاسیون رامنځ ته کوي، وڅېړل. هیله کېږي چې لوستوال له موضوع څخه ښه نتیجه او اخځ وکړای شي په پیسو او پولي سیاست پورې اړوند مسایل او ستونزې په سمه توګه تحلیل او تجزیه کړای شي او په ورځنیو چارو کې یې عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې**

۱ – د پیسو شتون په یوه ټولنه کې ولې په کافي اندازه اړین دی؟

۲ – د پیسو د ارزښت، د پیسو د مقدار او د توکو د مقدار ترمنځ اړیکې څه ډول دي، تشریح یې کړئ؟

۳ – د پیسوکورنۍ او بهرنۍ ارزښت سره پرتله کړئ؟

۴ – د بیو د نرخ فورمول استخراج کړئ؟

۵ – کوم عوامل په مخ پر وده هېوادونو کې د پولي ارزښت د بې ثباتۍ او نه استقرار لامل کېږي او د مخنیوي لپاره یې له کومې وسیلې کار اخلئ؟

۶ – د بیو د لوړوالي په اړه د فریدمن نظریه او د هغه مخالفې نظریې تحلیل کړئ؟

۷ – مجموعي عرضه او مجموعي تقاضا تعریف کړئ؟

۸ – د مطلوبو بیو سیاست د پولي سیاستوال له نظره څه دی، تشریح یې کړئ؟

۹ – که د ځینو توکو یا موادو بیې لوړې شي، ایا دا نتیجه اخیستلی شو، چې د پیسو ارزښت ټیټ شوی، شرحه یې کړئ؟

۱۰ – د بیو د لوړوالي پولي لاملونه کوم دي، شرحه یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچينې او اخځليكونه**


۱- پل سامؤيلسن ونورد هاوس {اصول علم اقتصاد(جلددوم)}تهران ۱۳۸۴

۲- داکتر ويم کوسترس {اقتصادوسياست هاي پولي}کابل ۱۳۸۵

۳- پول، ارزو بانکداري (مؤلف داکتريوسف فرجي)۱۳۸۷

۴- پول،ارز بانکداري(فريدريک ميشکين)

۵- پول و کريدت (سيد مسعود)۱۳۸۷

۶- سياست پولي و انفلاسيون نويسنده گان: کارل اي - کيس وري سي- فيز(مترجم جاويد شعيبي

۷- مترجم احمد جاويد شعيبي

۸- استاد پوهنحي اقتصاد پوهنتون کابل

۹- نورد هاوس پل سامولسن (اصول علم اقتصاد جلد دوم) محل نشر: انتشارات علمي و فرهنگي کتيه صحافي: چهر تهران ۱۳۸۴.

۱۰- کوسترس داکتر ويم (اقتصاد و سياست هاي پولي) کابل ۱۳۸۵

۱۱- داکتر فرجي يوسف (پول، ارز و بانکداري) ناشر: شرکت چاپ و نشر بازرگاني وابسته به موسسات مطالعات و پژوهش هاي بازرگاني تهران ۱۳۸۷

۱۲- ميثکيني فريدريک (پول، ارز و بانکداري) ناشر اطلاعات تهران ۱۳۷۸

۱۳- سيد مسعود (پول و کرديت) پوهنتون کابل ۱۳۸۷

۱۴- کيس وري سي-فير-کارل اي مترجم احمد جاويد شعيبي" پوهنځي اقتصاد پوهنتون کابل ناشر انتشارات سعيد ۱۳۸۸

۱۵- مجله بانک (د افغانستان بانک) سال دوم شماره چهاردهم ماه اسد ۱۳۸۷

۱۶- پست الکترونيکي Magazine@centralbank.gov.at

۱۷- صفحه الکترونيکي WWW.centralbankgov.at

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښـــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســـې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د ښـــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنيکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شـــان له ټولو ځېرونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د مســـلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســـلکي، تخنيکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املايي او انشـــايي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا رياست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**